# د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری

## پښتو مجله

لومړی کال ◆ ۳۲ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د کب ۳۰مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ


**د افغانستان د سولې په اړه د مسکو په غونډه کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل: «هیله من یم چې د مسکو ناسته د سولې په بین الافغاني مذاکراتو کې له پرمختگ او د افغانستان د ستونزو له اواري سره مرسته وکړي.»**









۸ صبح
د پرون روایت | دنن هینداره | د سبا زیری



# سرکرښې

## نوی کال، نوې پېړۍ او نوې هیلې

نوی کال او ۱۴۰۰مه پېړۍ په داسې حال کې پیلېږي چې تېره کابو نیمایي پېړۍ افغان اولس له جګړو، سیاسي کشمکشونو، ناخوالو او مرګونو سره تېره کړه. تېر ۴۳ کاله د افغانستان یو نسل په جګړو کې رالوی شو، جګړې او ستونزې یې وګاللې ډول ډول واکمنۍ او رژیمونه یې وزغمل خو په دې موده کې یوه حکومت هم په پوره اخلاص او صداقت د افغانانو د دغو ناخوالو د پای ته رسولو لپاره متې راونه نغښتې. که څه هم ښایي چې ډېر بهرني او کورني لاملونه به یې لرل چې دا ناورین تر ننه رارسېدل، خو په خپله افغانان هم تر ډېره ګرم دي ځکه که چېرې افغان سیاستوال او د جګړې لوري په دې موده کې په صادقانه توګه د پردیو له اشارې او فشار پرته په پوره اخلاص سره ناست او ټول مسایل یې د خبرو له لارې مطرح کړي وای نن به موږ هم له نورو اولسونو سره سیال او د پرمختګ او سوکالۍ پر لور به مو ګامونه پورته کړي و. تر ننه په افغانستان کې د حکومتونو او چارواکو ډېره پاملرنه پوځي برخې او جګړې ته ده او د هېواد پر شته امکاناتو سربېره بهرنۍ مرستې هم پر همدې برخه لګول کېږي چې پایله یې یوازې افغانوژنه، بې کوري، معلولیت او ډېرې نورې ناخوالې دي چې ننی افغان ورسره مخ دی.

له هغه وخته چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوې له یوې خوا د افغانانو په زړونو کې د جګړې د ختمېدو او تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره هیلې راټوکېدلې، خو له بله پلوه په هېواد کې زیاتېدونکي تاوتریخوالي سخت اندېښمن کړي دي ځکه د هر افغان وګړی غوښتنه یوازې د امن او آرامۍ راتلل دي، ټول همدې ته شېبې شمېري چې څه وخت به د جګړې د بندېدو او تلپاتې سولې زېری واوري چې د مرګونو او ناخوالو شاهدان نه وي.

اوس چې یو ځل بیا د سولې لپاره هڅې ګړندۍ شوې او د مسکو او بیا هم په استانبول ښار کې د افغان جګړې د ښکېلو لوریو ترمنځ د ناستو او مذاکراتو فرصت برابر شوی بایده دي چې دواړه لوري نرمښت وښیي او پر دغه ځورېدلي او کړېدلي اولس نور رحم وکړي، د دوی غوښتنو ته پام وکړي، له جګړې لاس واخلي او د تلپاتې سولې او ټیکاو لپاره سره سلا شي. د مسکو ناسته چې د افغان سولې مذاکراتو د چټکتیا په موخه د افغان دولت او طالبانو ډلې د پلاویو په ګډون جوړه شوه دا هم یوه غوره هڅه ده، خو افغانان هیله من دي چې د دواړو لوریو مشران نور نو اجازه ورنه کړي چې هېواد مو د بهرنیانو د سیالیو په ډګر بدل شي. ښه به دا وه چې دا ډول ناستې د ننه په هېواد کې ترسره شوې وای ترڅو افغانان په خپلو کې د بهرنیانو له اغېز او فشار پرته یوه جوړجاړي ته سره ورسېږي. اولس تمه لري چې ټول لوري په دې لاره کې نرمښت وښیي ځکه افغانان نور له جګړې سخت ستومانه شوي دي. په دې هیله چې نوی کال په افغانستان کې د جګړې او تاوتریخوالي د دایمي پای ته رسېدو او تلپاتې سولې، سوکالۍ او پرمختګ کال وي.

انشاءالله

# لیکلړ

● په مسکو کې د افغان سولې په اړه غونډه جوړه شوه ........ ۱
● د امریکایي طرحې د تعدیل لپاره سلامشورې ........ ۲
● غني: له ټاکنو پرته د واک لېږد ته چمتو نه یم ........ ٤
● د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه پېنځمه ناسته ترسره شوه ........ ۵
● د ملګروملتونو له خوا په افغانستان کې د هدفي بریدونو... ........ ٦
● په بحرین کې د افغانستان او پاکستان د لوړپوړو... ........ ۷
● د افغانستان ناڅرګند سیاسي وضعیت ........ ۸
● د افغان جګړې ورځنۍ تلفات یو ځل بیا لوړ شوي دي ........ ۹
● لنډۍ ........ ۱۰
● مریدنامه ۱۵ ........ ۱۱
● فاسده اداره او بې انګېزې مامور ........ ۱۳
● دري خبریالان په افغانستان کې د کال... ........ ۱٤
● د اسلام کلا د اورلګېدنې په اړه شکونه تراوسه پر خپل ځای دي ........ ۱۵
● د لوړو زده کړو وزارت مالوماتي بانګ پرانیستل شو ........ ۱۷
● د سوکاله کورنۍ ځانګړتیاوې ........ ۱۸
● جګړو د کندهار بڼونه د وچېدو له ګواښ سره مخ کړي دي ........ ۱۹
● افغانستان لـه زمباښوې سره د ټېسټ په دویمه لوبه کې بریا ترلاسه کړه ........ ۲۰

د امتیاز خاوند: سنجر سهیل
مدیر مسوول: مجیب مهرداد
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
خبریالان: احمد شاه شاداب او حفیظ الله علي خیل
دیزاین: غ. رضا مجیدي
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان

0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# په مسکو کې د افغان سولې په اړه غونډه جوړه شوه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د کب په ۲۸مه نېټه د افغانستان د سولې په اړه په مسکو کې غونډه جوړه شوه. په دغه غونډه کې د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله په هېواد کې د روان تاوتریخوالي د زرتررزره پای ته رسېدو غوښتنه وکړه.

ښاغلي عبدالله د ناستې ګډونوالو ته په وینا کې له طالبانو وغوښتل وکړي چې دواړه لوري په یوه نوي فضا کې د سولې خبرې پیل کړي.

ښاغلي عبدالله د افغانستان د اسلامي جمهوریت په استازیتوب له طالبانو سره له کوم قید او شرط پرته په هر ډول موضوعاتو خبرو ته چمتووالی وښود، خو ترڅنګ یې د تېرو لاسته راوړنو په ساتنې سربېره، د ټاکنو له لارې د هېواد د سیاسي برخلیک پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس خبرداری ورکړ چې که د سولې اوسنی فرصت له لاسه ووځي، د هېڅ یوه لوري په ګټه به نه وي.

هغه زیاته کړه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د طالب بندیانو په ازادۍ او په دوحه کې د مخامخ خبرو په پیل سره د جګړې د پای ته رسېدو لپاره هیله من و، خو نه یوازې دا چې جګړه پای ته ونه رسېده، بلکې تاوتریخوالی او هدفي وژنې زیاتې شوې او افغانان هره ورځ قرباني ورکوي.

له بلې خوا، په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر وویل چې افغانان باید پرېښودل شي خپل برخلیک په خپله وټاکي.

هغه د دوحې تړون په عملي کېدو د ټینګار ترڅنګ له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د اوسنیو ستونزو په اواري کې له افغانانو سره مرسته وکړي.

د مسکو غونډې په پیل کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګې لاوروف هم د افغانستان د شخړې په بین الافغاني او سیاسي حل ټینګار وکړ.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر هیله څرګنده کړې چې د مسکو ناسته د سولې په بین الافغاني مذاکراتو کې له پرمختګ او د افغانستان د ستونزو له اواري سره مرسته وکړي.

لاوروف ټینګار وکړ چې مذاکره او تفاهم په افغانستان کې سولې ته د رسېدو یوازینۍ لار ده.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل چې په افغانستان کې باید د سولې داسې هوکړه وشي چې ټولو لوریو ته د منلو وړ وي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل هېواد یې چمتو دی، د اړتیا پر مهال د افغانانو ترمنځ د سولې خبرو کوربه توب وکړي.

په دغه ناسته کې د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله، پخواني ولسمشر حامدکرزي، عبدالرشید دوستم، ګلبدین حکمتیار، محمدکریم خلیلي، میررحمان رحماني، محمدعلم اېزدیار، محمدمعصوم استانکزي، حبیبې سرابي، متین بېک، سیدسعادت منصور نادري او احمدنادر نادري او د طالبانو ډلې د سیاسي دفتر د مشر ملابرادر په مشرۍ پنځه کسیز پلاوي ګډون کړی و.

د مسکو غونډه د روسیې، امریکا، چین او پاکستان ترمنځ د ترویکا د ناستو دوام دی چې په هرو شپږو میاشتو کې یو ځل کېږي، خو دا ځل یې یوه برخه د افغانستان سولې ته ځانګړې شوې وه.









# د امریکايي طرحې د تعدیل لپاره سلامشورې



◆ **لیکوال: محمد حسین نیک خوا**
◆ **ژباړن: م. ظریف صمیم**

افغان دولت او طالبانو ته د امریکا له خوا د سولې انتقالي دولت طرحې له وړاندې کولو وروسته، د دغې طرحې د تعدیل لپاره سلامشورې روانې دي. په حکومت کې ځینې سرچینې وايي چې د امریکا د وړاندیزي طرحې په اړه سلامشورو کې د دولت جوړونې او اوربند د موضوع پر سر اختلاف نشته، خو د انتقالي دولت مسله د بحث وړ ده. ارګ میشتي وايي چې یوازې له وخته مخکې ټاکنو سره موافق دي، خو د انتقالي دولت منلو ته حاضر نه دي. خو سیاستوالانو په اوسني وخت کې د امریکا د طرحې د تعدیل لپاره سلامشورو ته دوام ورکړی دی. د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې له کابو ۵۰ غړو ۲۵ یې د امریکا د وړاندیزي طرحې په اړه خپل نظریات وړاندې کړي دي. ټاکل شوې ددې بهیر له بشپړېدو وروسته، یوه کمیټه دا لیدتوګې توحید او د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې په بله ناسته کې یې د وروستۍ پرېکړې لپاره وړاندې کړي. د طرحې د تعدیل په اړه له پرېکړې وروسته به د طالبانو له خوا د طرحې د تعدیل ترڅنګ د استانبول په غونډه کې پرې بحث وشي.

د افغانستان د سولې په تړاو د مسکو او استانبول د ناستو په درشل کې، د ملي روغې جوړې د عالي شورا ځینې غړي د امریکا د طرحې د تعدیل لپاره د سلامشورو د دوام خبر ورکوي. یوې خبري سرچینې ۸صبح ته ووېل چې د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې ناسته چې د کب په ۲۴مه نېټه ترسره شوه دغو بحثونو درې نیم ساعته دوام وکړ. **د بحثونو په لړ کې، د ارګ لوري د سولې د انتقالي دولت له منلو سره مخالفت کړی، خو ویلي یې دي چې له وخته مخکې ټاکنو ته حاضر دي. له بلې خوا، ولسمشر غني ته نږدې کسانو جوته کړې چې آن له وخته مخکې ولسمشرۍ ټاکنو تر کېدو پورې به ولسمشر غني خپلې دندې ته دوام ورکوي او په هېڅ ډول شرایطو کې به له دندې ګوښه نه شي.**

دا په داسې حال کې دي چې د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې غړو د تعدیلي طرحې د برابرولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی. په دې توګه ددغې کمیټې هر یوه غړي د امریکا د وړاندیزي طرحې په اړه خپل نظریات د طرحې په شا لیکلي او د ملي روغې جوړې په عالي شورا کې یې یوې کمیټې ته وړاندې کړي دي. ددغې کمیټې له ۵۰ غړو کابو ۲۵ یې د امریکا د طرحې په هکله خپلې لیدتوګې بیان او د کب تر ۲۴مې یې اړوندې کمیټې ته سپارلې او ټاکل شوې دا بهیر دوام وکړي. **د نظرونو له بیانولو وروسته، د ملي روغې جوړې په عالي شورا کې جوړه شوې کمیټه به دا نظریات ددغې شورا د مشرتابه کمیټې ناستې ته وړاندې کړي. د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې په تصمیم سره به دا طرحه د تعدیلي طرحې په توګه د استانبول په ناسته کې وړاندې شي.**

طالبانو هم ویلي چې ددې طرحې په هکله یې سلامشورې روانې دي. په قطر کې د دغې ډلې د سیاسي دفتر ویاند محمدنعیم د کب په ۲۴مه وویل چې طالبانو ډلې تراوسه ددغې طرحې په اړه تصمیم نه دی نیولی، خو په دې اړه د دوی سلامشورې روانې دي. له بلې خوا، په دولت کې ځینې سرچینې وايي چې د ارزونو

لـه مخـې، **ښـايي طالبـان هـم ددې طرحـې لـه ځينـو برخـو سـره مخالفت وکړي؛ ځکه په طرحه کې ځينې موردونـه د طالبانو له کرښـلارې سـره اړخ نـه لګـوي.** که څه هم ټاکل شـوې وه د اسـتانبول ناسـته د مـارچ په ۲۷مه نېټه ترسـره شـي، خـو ترکي چارواکـو د اپريل پـه لومړيـو کـې ددغـې غونـډې د جوړېدو وخـت اعلان کـړی دی.

د امريکا د طرحـې پـه اړه لـه سلامشـورو سـره پـه يـو وخـت، د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا يوه غـړي محمد اسـماعيل خـان د هرات د کـب د ځلرويشـتمې پاڅـون په مراسـمو کې د وينا پرمهال د سـولې د نـوې طرحـې د برابرولـو لپاره د ځينو سياسـتوالانو د هڅو خبر ورکړ. داسـې ښـکاري چـې د هغـه موخـه هـم تعديلـي طرحـه ده. د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا د مشـرتابه کميټې دغه غـړی زياتوي چې ددې طرحـې پـه هکلـه يـې خپـل نظـر شـريک کـړی او هيلـه من دی چـې پـر ټولـو اړخونـو يـې دقـت او بحث وشـي چـې يـوه واقعـي طرحه برابـره او لـه هغـې د نړيوالـې ټولنې، ګاونډيـو او د سـيمې هېوادونو په ملاتـړ، واقعـي سـوله ټينګـه شـي. هغـه د افغانسـتان لـه سياسـتوالانو غـواړي دا طرحه په ځيرتيا سـره وارزوي چې له طالبانو سـره د سـولې مذاکراتـو د بنـدون ماتولـو لپاره د سـولې يوه داخلي طرحـه، د ترکيې د سـولې غونـډې تـه وړانـدې شـي او د خلکـو، سياسـتوالو، ګونډونو او د قضيـې د ټولـو اړخونـو د منلـو وړ وګرځي.

دغـه سياسـتوال پـه دې باور دی چې د زلمي خليلزاد د سـولې طرحه ډېـر ښـه او مثبـت ټکـي لري، خـو لوېې نيوکـې هم له ځان سـره لري، ځکـه د ولسمشـر او د هغـه د مرسـتيالانو د ټاکلـو ځرنګوالـی پکـې پـه سـمه توګـه نـه دی بيـان شـوی چـې پـه دې برخـه کـې ډېـر بحثونـه او نيوکـې موجـودې دي. د هغـه پـه وينـا، د جګـړې پـای تـه رسـېدل او دايمـي اوربنـد، پـه مشـخص وخـت کـې د ټاکنـو ترسـره کېـدل، له افغانسـتانه د ټولـو بهرنيـو ځواکونو وتل او د بشري حقونو د ارزښـتونو خونديتـوب، د زلمـي خليلـزاد پـه وړانديـزي طرحـه کـې مهـم ټکـي او وړانديزونـه بلـل کېـږي. **محمـد اسـماعيل خـان پـه دې بـاور دی چـې د حکومـت او طالبانـو ترمنـځ د قـدرت سـم نيمايـي وېـش د خليلـزاد د سـولې طرحـې اساسـي ننګونـه ده؛ ځکـه چـې افغـان حکومـت يـو ګونـد نـه دی، خـو طالبـان يـو ګونـد دی او اسـلامي ګوندونـه چـې پـه تېـرو ۲٦ کلونـو کـې لـه طالبانـو سـره د جګـړې اصلـي لـوری و، پـه دې طرحـه کـې يـې يادونـه نـه ده شـوې.**

د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا د مشـرتابه کميټـې دا غـړی خبـرداری ورکـوي چـې د افغانسـتان د جګـړې ښـکېل لـوري بايـد دا درک کـړي چـې د جګـړې اصلـي لـوری مجاهديـن دي او کـه دوی تـه بـې پامـي وشـي، د خليلـزاد د سـولې طرحـه بـه لـه سـتونزو سـره مخامـخ شـي چـې ليـرې کـول بـه يـې ناشـوني وي. د هغـه پـه انـد، د يـوه ټـول ګډونـه انتقالـي حکومـت جوړېـدل چـې د ټول افغـان اولس د منلـو وړ وي او پـه هغـې کـې د نظـام لاس تـه راوړنـې او جوړښـت په پـام کـې ونيـول شـي او همـداراز لـه افغانسـتانه د نړيوالـې ټولنـې د سياسـي او مالـي ملاتـړ دوام، د جګـړې د پـای تـه رسـېدو لپاره مهـم اصـول دي او پرتـه لـه هغـې، بـه سـوله لـه ننګونـو سـره مخ شـي. دغه پخوانـی جهـادي قومانـدان ټينـګار کـوي چـې سـيمه ييـزه اجمـاع او د ملګروملتونـو سـازمان تـر نظر لانـدې د سـولې مذاکـرات د منلـو وړ دي، خـو پـه عيـن حـال کې لاس تـه راوړنـې او د نظام جوړښـتونه لکه اجراييـه، مقننـه او قضاييـه قـواوې او همـداراز ملـي پوليـس، اردو او ملـي امنيـت هغـه واقعيتونـه دي چـې بايـد خونـدي پاتـې شـي.

د اسـماعيل خـان پـه بـاور، په حکومت کـې د طالبانو ادغـام، يوه لويه پوښـتنه ده او د خليلزاد د سـولې په طرحه کې ددې کار د ځرنګوالي پـه اړه څـه نـه دي ويـل شـوي. هغـه زياتـوي چـې وسـله وال او بـې وسـلې طالبـان ځرنګـه پـه نظام کې مدغم شـي او پـه دې هکله ډېرې پوښـتنې موجـودې دي چې بايد روښـانه شـي.

**دا پـه داسـې حـال کـې دي چـې د ملـي روغـې جـوړې د عالـي شـورا د مشـرتابه ځينـې غړي، له افغان حکومته غواړي د سـولې د مسـلې په تړاو لازيات نرمښـت وښـيي او که د جمهوريت معنا د خلکـو پـر رايـو بـاور دی، افغانـان د جګـړې د پـای ته رسـېدو او سـولې د ټينګښـت غوښـتونکي دي چـې بايـد د دوی غوښـتنه ومنل شـي.**

لـه دې مخکـې د هېـواد د بهرنيـو چـارو وزير محمـد حنيـف اتمـر لـه خپـل ترکـي سـيال مولـود چـاووش اوغلـو سـره د تليفـون لـه لارې د ترکيـې پـه کوربتـوب د افغانسـتان د سـولې مذاکراتـو د بـل پړاو پـه هکلـه خبـرې کـړې وې. ترکي چارواکـو اعلان کړی چې د افغانسـتان د سـولې پـه اړه ناسـته بـه پـه اپريـل مياشـت کـې د نومـوړي هېـواد پـه کوربتـوب پـه اسـتانبول ښـار کـې جوړه شـي. د بهرنيـو چـارو وزارت د اعـلان لـه مخـې، مولـود چـاووش اوغلو له ښـاغلي اتمر سـره پـه خبرو کـې وبلـي چـې د ترکيـې پـه کوربتوب د سـولې غونـډه د دوحې ځای ناسـتې نـه ده، بلکـې د دوحـې د سـولې بهير بشـپړوونکې بـه وي.

دغـه تليفونـي خبـرې د کـب پـه ۲۳مـه نېټـه شـوي دي، د ترکيـې د بهرنيـو چـارو وزير همـداراز وېلي چې ګډون کوونکو لوري د اسـتانبول پـه غونـډه کـې د ګډون لپاره خپـل چمتووالی اعلان کـړی او دا هېواد همـداراز د افغانسـتان، ايـران او پاکسـتان پـه درې اړخيزه ناسـته کې د ګـډون لپـاره چمتـو دی. حنيـف اتمر د افغانسـتان د سـولې خبرو د بـل پـړاو د کوربتـوب لپـاره د ترکيـې له هڅـو هرکلی کـړی او دا هېواد يـې د بـاور وړ کوربـه بللـی دی. لـه بلـې خـوا، پـه کابـل کـې د چيـن سـفير وانـګ يـو لـه محمـد حنيـف اتمر سـره پـه کتنـه کې د مسـکو او اسـتانبول پـه غونـډو او همـداراز د ملګروملتونـو سـازمان پـه کوربتوب د اغېزناکـو هېوادونـو د بهرنيـو چـارو د وزيرانـو پـه ناسـته کـې د خپـل هېـواد د فعـال ګـډون پـه اړه ډاډ ورکړی دی.

پـه داسـې حـال کـې چې ټاکل شـوې څو ورځې وروسـته د روسـيې او ترکيـې پـه کوربتـوب د افغانسـتان د سـولې په اړه دوې ناسـتې ترسـره شـي، د افغانسـتان د جګـړې د پـای تـه رسـېدو او سـولې د ټينګښـت لپـاره د وړانديـزي طرحـو پـه هکله بحثونه تـادوه شـوي دي. امريکا په دې وروسـتيو کـې افغـان حکومـت، طالبانـو او يو شـمېر سياسـتوالانو تـه يـوه طرحـه سـپارلې چـې په هغـې کـې د انتقالي دولـت د جوړېدو د لارې نقشـه وړانـدې شـوې ده. پـه دغـه لـس مخيـزه طرحـه کـې، د سـولې د انتقالـي دولـت پـه نـوم دولـت د جوړېدو لپاره څـو احتمالي سـناريوګانې اټـکل شـوې دي. **ددې طرحـې لـه مخې، ټاکل شـوې د افغانسـتان د سـولې د انتقالـي دولـت پـه نـوم نـوی سياسـي جوړښـت رامنځته شـي چـې درې خپلواکـې او مسـاوي اجراييه، مقننـه او قضاييـه قـوې بـه ولـري. ددغـه سـند پربنسـټ يـوه د اسـلامي فقـې عالـي شـورا او د اساسـي قانـون د تعديـل يـو کمېسـيون بـه هـم جوړ شـي.**

# غني: له ټاکنو پرته د واک لېږد ته چمتو نه یم




◆ م. ظ. صمیم

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني وايي چې که سبا د طالبانو دله ټاکنو ته حاضره شي، هغه چمتو دی، خو له انتخاباتو پرته خپل ځای ناستي ته د واک سپارلو لپاره حاضر نه دی.

د ارګ د اعلان له مخې، ولسمشر غني دا خرګندونې د تلې په ۲۶مه نېټه د بهرنيو چارو په وزارت کې د افغانستان د بهرنۍ سياست د لومړيتوبونو او د ډيپلوماسۍ دستګاه د اصلاحاتو په نوم جوړ شوي سيمينار کې وکړې.

د هېواد ولسمشر په دغه ناسته کې ويلي: «که طالبان سبا ټاکنو ته حاضر وي، موږ چمتو يو، خو له ټاکنو پرته خپل ځای ناستي ته د واک لېږدولو ته چمتو نه يم. ۴۲ کاله جګړه شوې او نور افغانان دا حالت نه شي زغملی ځکه موږ هم د نړۍ د نورو اولسونو په شان د ژوند کولو حق لرو.»

محمد اشرف غني په دغه سيمينار کې د افغانستان د سولې لپاره د امريکا له استعجاليته مننه کړې خو ويلي يې دي چې د سيمې او نړۍ د هر بل هېواد په پرتله افغانستان سولې ته د رسېدو لپاره ليوالتيا لري.

هغه جوته کړه: «موږ د تلپاتې او عادلانه سولې د ټينګښت لپاره د احساساتو پر ځای د واقعيتونو پر بنسټ پرمخ ځو.»

ولسمشر زياته کړه چې حکومت تلپاتې او عادلانه سولې ته د رسېدو لپاره د لارې نقشه لري او له مخې به يې افغانستان خپلو موخو ته چې ملي واکمني، جمهوريت، ملي يووالی، بې طرفي، اتصال او تلپاتې او عادلانه سوله ده ورسېږي.

ولسمشر غني د افغانستان د بهرنۍ سياست د لومړيتوبونو او د ډيپلوماسۍ دستګاه د اصلاحاتو په نوم جوړ شوي سيمينار کې د بهرنۍ سياست د لومړيتوبونو او د بهرنۍ سياست د پنځو حلقو، د سولې بهير او د آسيا په څلور لارې د افغانستان د بدلېدو په اړه مالومات ورکړل.

محمد اشرف غني د مراسمو په پيل کې د بهرنيو چارو وزارت په انګړ کې يو نيالګی کيناوه او وروسته يې د پټۍ په پرې کولو سره د ډيپلوماسۍ انستيتوت ودانۍ پرانيسته او هغه يې د شاهي دورې د لومړي وزير محمد موسی شفيق د ډيپلوماسۍ انستيتوت په نوم ونوماوه.



# خليلزاد له غني او عبدالله سره په جلا جلا ډول وکتل

◆ م. ظ. صمیم

د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د کب په ۲۵مه نېټه کابل ته په سفر کې له ولسمشر محمد اشرف غني او د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رييس عبدالله عبدالله سره په جلاجلا ډول وکتل.

د ولسمشرۍ دفتر د اعلان له مخې، خليلزاد په دغه کتنه کې د خپلو وروستيو سفرونو او فعاليتونو په اړه ولسمشر غني ته معلومات ورکړي دي.

ارګ وايي چې دواړو لوريو د سولې بهير او په دې اړه د نورو اقداماتو په هکله هم خبرې اترې وکړې.

ښاغلي خليلزاد د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رييس عبدالله عبدالله سره هم په سپېدار ماڼۍ کې کتلي دي.

د سپېدار د رپوټ پر بنسټ، دواړو لوريو د افغانستان د سولې په اړه د وروستيو پرمختګونو او بدلونونو، د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمېټې د وروستۍ ناستې د تصميمونو، د افغانستان د سولې په هکله د مسکو او ترکيې د غونډو، د دوحې د مذاکراتو، د خبرو بهير د چټکتيا او تاوتريخوالي د کمښت په اړه خبرې اترې وکړې.

خليلزاد چې کابل ته راغلی، په دوحه کې يې د قطر له چارواکو، د دولت او طالبانو له مرکچي پلاويو او ترکي چارواکو سره کتلي دي.

زلمي خليلزاد همداراز پاکستان ته سفر وکړ او ددغه هېواد له يو شمېر سياسي او پوځي چارواکو سره يې کتنه او خبرې اترې کړې دي.

د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا ځانګړي استازي په خپل مخکيني سفر کې افغان دولت او يو شمېر سياستوالانو ته يوه طرحه وسپارله چې د يوه انتقالي دولت احتمالي سناريوګانې پکې اټکل شوي وي.

دا طرحه په کابل کې له بېلابېلو غبرګونونو سره مخامخ شوې ده. د ملي روغې جوړې عالي شورا هم په يوه ناسته کې دا طرحه ارزولې ده.



# د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه پينځمه ناسته ترسره شوه

◆ م. ظ. صميم

د کب په ۲۴مه، د سولې لپاره د امريکا د وړانديزي طرحې او د افغانستان د سولې بهير په هکله د سيمه ييزو او نړيوالو ناستو په اړه د بحث لپاره د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کميټې پنځمه ناسته ترسره شوه.
ددغې کميټې غړو ويلي: «د سولې د ټينګښت په موخه له هر اقدامه ملاتړ کوي او د افغانستان اسلامي جمهوريت د تلپاتي او باعزته سولې د برياليتوب لپاره کلکه او پياوړې اراده لري.»
له بلې خوا د ملي روغې جوړې د عالي شورا وياند مجيب الرحمان رحيمي وايي چې په دغه ناسته کې پرېکړه شوې چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د مذاکراتو بهير له چټکتيا هرکلی کوي او همداراز د زلمي خليلزاد د وړانديزي طرحې په دقيق څېړلو له امريکا سره خپل دريځ شريکوي. د رحيمي په وينا، د سيمه ييزو او نړيوالو ناستو په اړه هم پرېکړه شوې چې افغانستان پکې ګډون کوي.
د ملي روغې جوړې د عالي شورا له خوا د امريکا د طرحې په هکله وروستۍ پرېکړه نه ده اعلان شوې، خو عبدالله عبدالله ويلي چې بايد د امريکا له خوا د طرحې او همداراز د سيمه ييزو او نړيوالو ناستو په هکله چې ټاکل شوې په نږدې راتلونکي کې ترسره شي واحد او روښانه دريځ غوره شي.
هغه زياته کړه: «موږ د بحثونو له مطرح کولو وېره نه لرو، خو بايد د افغانستان د خلکو او دولت دريځ او غوښتنه روښانه وي.»
د سپېدار د اعلان له مخې، په دغه ناسته کې ټينګار شوی چې د سولې بحث د افغان دولت او خلکو له خوا مطرح شوي او د افغانستان سوله سيمه ييز او نړيوال اړخ لري.
د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کميټې غړو ويلي چې د سيمې او نړۍ هڅې او صادقانه ملاتړ کولی شي د سولې بهير د برياليتوب ضمانت وکړي.
د ملي روغې جوړې عالي شورا د مشرتابه کميټې په پينځمه ناسته کې ددغې کميټې هغه يو شمېر غړي چې په تېرو ناستو کې حاضر نه وو، په دې ناسته کې يې ګډون کړی و.

# د امريکا د بهرنيو چارو وزير د ملګروملتونو له سرمنشي سره خبرې وکړې



◆ د ۸صبح پښتو مجله

د امريکا بهرنيو چارو وزير انتوني بلينکن د ملګروملتونو له سرمنشي انتونيو ګوتيرش سره د افغانستان د سولې بهير په اړه خبرې کړې دي.
په دغو خبرو کې، بلينکن د ملګروملتونو د ملاتړ او ژمنې له امله مننه وکړه چې د افغانستان د سولې په مذاکراتو کې يوې سياسي هوکړې، دوامداره او هر اړخيز اوربند ته د رسېدو په برخه کې مرسته کوي.
د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د دغو خبرو په اړه نور جزيات نه دي ورکړي. دواړو لوريو د برما او ايتوپيا هېوادونو د مسايلو په اړه هم خبرې کړې دي.
په هغه طرحه کې چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد حکومت، طالبانو او يو شمېر سياستوالانو ته سپارلې پکې د ملګروملتونو تر څارنې لاندې د يو لړ غونډو د جوړېدو خبره هم شوې ده.
ولسمشر غني او عبدالله عبدالله ته د انتوني بلينکن ليک په يوه برخه کې راغلي چې امريکا دوامداره او هر اړخيز اوربند ته د رسېدو لپاره ښکېلو اړخونو، د سيمې هېوادونو او له ملګروملتونو سره يوځای په لوړه کچه ډيپلوماتيکې هڅې تعقيبوي.
په دغه ليک کې راغلي چې امريکا له ملګروملتونو څخه غواړي چې د روسيې، چين، پاکستان، ايران، هند او امريکا د بهرنيو چارو وزيرانو او استازو په ګډون دې يوه ناسته جوړه کړي چې پکې د افغان سولې د ملاتړ په تړاو پر يوې ګډې کړنلارې بحث وشي. که څه هم حکومتي سرچينو له دې وړاندې ۸صبح ته ويلي ؤ چې تمه ده د زلمي خليلزاد په وړانديز د ملګرو ملتونو په مشرۍ د بُن غونډې ته ورته يوه ناسته د مارچ په ۲۷مه نېټه د ترکيې په استانبول کې جوړه شي، خو د ترکيې د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې دغه غونډه به په اپرېل مياشت کې جوړه شي.

# د ملگروملتونو له خوا په افغانستان کې د هدفي بریدونو د بندېدو غوښتنه وشوه

◆ د ۸صبح پښتو مجله

د ملگروملتونو امنیت شورا په افغانستان کې د ملکي وگړو پر وړاندې هدفي بریدونه غندلي دي. دغې شورا د بین الافغاني مذاکراتو له پیلېدو وروسته د تاوتریخوالي او بریدونو د زیاتېدو په اړه اندېښنه ښودلې ده.

د ملگروملتونو د امنیت شورا غړو د روان کال د کب میاشتې په ۲۲مه نېټه، دغه بریدونه چې پکې د دولت، رسنیو، عدلي او قضايي بنسټونو کارکوونکي، روغتیايي کارکوونکي، د ښځو او بشري حقونو فعالین او مذهبي لړکي په نښه کېږي، په کلکو ټکو وغندل.

د نومووړې شورا په اعلامیه کې راغلي، د ملگروملتونو د امنیت شورا غړي د هدفي وژنو د ژر تر ژره پایته رسېدو غوښتونکي شول او د دغو بریدونو د عاملینو په چټکې محاکمې یې ټینگار وکړ.

د ملگروملتونو امنیت شورا ټینگار کړی چې، ټول اړخونه باید په هر ډول شرایطو کې د ملکي وگړو د ملاتړ او نړیوالو بشردوستانه قوانینو ته د درناوي په گډون پر خپلو ژمنو عمل وکړي.


د ملگروملتونو امنیت شورا غړو ویلي دي چې، هدفي بریدونه جنگي جنایت دی او سولې ته رسېدل یوازې د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د خبرواترو له لارې امکان لري.

د ملگروملتونو د امنیت شورا غړو همداراز د سولې په بهیر کې د ښځو په بشپړ او معنی لرونکي گډون باندې هم ټینگار کړی دی.

د ملگروملتونو امنیت شورا د مذاکراتو اړخونه د سولې په بهیر کې باور جوړونې، د تاوتریخوالي کموالي او ښه نیت ته هڅولي دي.

د دې اعلامیې په وروستۍ برخه کې د ملگروملتونو امنیت شورا، افغانستان او سیمې ته د ترهگرۍ گواښ په اړه هم خپله اندېښنه ښودلې ده.

کابل ښار په وروستیو میاشتو کې د تاوتریخوالي او هدفي وژنو له زیاتوالي سره مخ دی چې په ډېری موردونو کې هېڅ شخص یا ډلې د دغو پېښو مسؤلیت پر غاړه نه دی اخیستی. په ځینو ولایتونو کې هم ورته پېښې ډېرې شوې دي. دولت د دغو هدفي بریدونو مسؤلیت پر طالبانو اچوي.





# په بحرين کې د افغانستان او پاکستان د لوړپوړو امنيتي چارواکو ناسته ترسره شوه

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صميم

د ولسمشر د ملي امنيت سلاکار حمدالله محب وېلي چې څو ورځې مخکې هغه، د ملي امنيت عمومي رييس احمد ضيا سراج او د پوځ لوی درستيز ياسين ضيا په بحرين کې د پاکستان د پوځ له لوی درستيز قمر جاويد باجوه او د دغه هېواد د پوځي استخباراتو سازمان له رييس فيض حميد سره وکتل.

حمد الله محب د کب په درويشتمه نېټه د لوړپوړو امنيتي مسوولينو په ګډون خبري ناسته کې په دې اړه مالومات ورکړل. هغه جوته کړه چې دا ناسته د بريتانيې په منځګړيتوب ترسره شوې وه او له دې امله چې دواړو لوريو يې د ځای په اړه اختلاف درلود بحرين ددې ناستې د ځای په توګه وټاکل شو.

د ملي امنيت سلاکار زياته کړه چې افغان دولت په کابل کې او پاکستان په راولپنډۍ کې ددغې ناستې د جوړېدو غوښتونکی و. هغه ووېل چې د دواړو لوريو ناسته د بريتانيې په منځګړيتوب په بحرين کې ترسره شوه.

ښاغلي محب د دغې ناستې د جزياتو په اړه مالومات ورنه کړل، خو وې وېل چې دا يوه تعرفي ناسته وه او کوم ځانګړی پرمختګ نه دی پکې شوی خو يوازې هوکړه وشوه چې دا ناستې دوام ومومي. د حمد الله محب په وينا، دا لومړی ناسته وه او هوکړه وشوه چې په راتلونکې کې هم دا ډول ناستې دوام وکړي.

حمدالله محب همداراز ووېل: لکه څنګه چې مخکې مو هم ويلي، يوازې له طالبانو سره مذاکره په هېواد کې د سولې د ټينګښت لامل نه کېږي او مهم پاکستان دی.

اسلام اباد د سولې په بهير کې د صادقانه همکارۍ نه کولو او همداراز له طالبانو په ملاتړ تور دی. په دې وروستيو کې د افغان چارواکو له خوا د افغانستان د سولې په اړه د پاکستان پر دريځ نيوکې زياتې شوې دي. ولسمشر غني په تېرو څو اونيو کې په څلونو له پاکستانه غوښتي چې له افغانستان سره په واقعي توګه سوله وکړي.

# د افغانستان
## ناڅرگند سیاسي وضعیت



◆ لیکنه: فرشته عباسي
◆ ژباړه: م. ع. پ

یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»

په افغانستان کې سیاسي وضعیت ښه نه دی. د افغان سولې بهیر په اړه د بایډن په مشرۍ د امریکا دولت نوي دریځ په هېواد کې د جگړې او سولې په اړه گونگوسې ډېرې کړې دي او هرڅه له هغو نویو پېښو خبر ورکوي چې تمه ده له طالبانو سره د سولې ډراماتیکه لوبه گړندۍ کړي.

کابل اوس له بل هر وخته زیات د سیاسي ناکرارۍ په وضعیت کې دی. افغان حکومت، چې د امریکا - طالبانو د سولې هوکړې په اړه د بایډن اداري د بیا ارزونې تـه یې تمـه و، د زلمي خلیلزاد د وېش په طرحې حیران شوی. محمد اشرف غني هغه طرحه د کاغذ یوه ټوټه او امرالله صالح د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر لیک تـه د بم، دسیسې او غوغا نوم ورکړ. په ورته وخت کې، افغان ولسمشر په دې ورځو کې د یوې حل‌لارې په لټه کې دی چې د خلیلزاد د واک وېشلو طرحه او د امریکا حکومت نوي دریځ پروړاندې په خپل وروستي دریځ باندې ولاړ پاتې شي.

په دغه لیکنه کې هغو ټکو تـه اشاره کېږي چې د ښاغلي غني ناڅاپي فکر کول او چاره سنجول څنگه په دې ترینگلې حالت کې د هغه د سیاسي بې وسۍ د درد درملنه کولی شي او د افغان سولې مذاکرات سمې لارې تـه برابر کړي.

ښاغلی غنی په ۲۰۱۴ کال کې واک ته له رسېدو راهیسې هېڅکله هم دومره یوازې او بې وسه نه و پاتې شوی. دې بې وسۍ هغه او نږدې کسان یې او آن لومړی مرستیال یې، په کربلا دښته کې د امام حسین له یوازیتوب سره پرتله کړی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې دا یوازیتوب او بې وسي له کوم ځایه شو؟ ښاغلی غني، چې ۷ کاله وړاندې یې د خپلې ولسمشرۍ لومړۍ دورې په پیل کې د مرسته کوونکو هېوادونو ملاتړ او د ناټو او امریکا پوځي ملاتړ، د نوموړي پوهې او تجربې ته د افغانانو لېوالتیا او په افغانستان کې د سولې او ثبات په ټینگښت کې یې د سیمې د هېوادونو نسبي همکاري له ځان سره لرله، خو نن ځان یوازې احساسوي.

له بهرنۍ ملاتړه ناراضه او احتمالاً له خپلو تېروتنو پښېمانه ښاغلی غني، په وروستیو میاشتو کې د افغانستان د سیاسي قدرتونو د ملاتړ جلبولو په لټه دی.

له سیاسي شخصیتونو یو هم محمد محقق ؤ چې د ښاغلي غني سره یې ترینگلې اړیکې درلودې، په دې وروستیو کې محقق له ولسمشر غني سره له جوړجاړي وروسته نوموړی د ستر سیاسي سلاکار په توگه وټاکل شو.

ښاغلي غني د کب په ۱۹مه په ولسمشرۍ ماڼۍ کې له مارشال دوستم سره وکتل. ښاغلی دوستم له دوو کلونو وروسته له جوزجانه کابل ته راستون شوی. د واک له مرکز څخه د نوي افغان مارشال واټن، د مجاهدینو او نورو مشرانو سره د ښاغلي غني د ترینگلو اړیکو یوه بله نښه ده. عبدالرشید دوستم چې، د ښاغلي غني د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د ولسمشر لومړی مرستیال ؤ، څه موده یې په ترکیه کې په جلاوطنۍ کې تېره کړه. اوس، له څو کلونو وروسته، محمداشرف غني له مارشال دوستم سره وکتل.

ښاغلي غني چې ۷ کاله مخکې یې ځان د ولسمشرۍ لپاره د شطرنج یوازینی لوبغاړی بللی و اوس باید د لوبې پر اصولو له سره غور وکړي. د نوموړي د واکمنۍ پرمهال د طالبانو ځواک زیات، ډېر شمېر امنیتي ځواکونه قرباني شول، فساد زیات شو او د هېواد ثبات له جدي خطر سره مخامخ شو او هرڅه له ترینگلي حالت سره مخ شول.

محمد اشرف غني ۷ کاله مخکې کله چې افغانستان د نړیوالو متحدینو له مالي او پوځي ملاتړه برخمن و او د ښاغلي کرزي له اوږدې مودې کمزورۍ مشرۍ وروسته د افغانانو سترگې هغه ته اوښتې وې، د لاسه تللو فرصتونو د جبرانولو او د افغانانو هیلو ته د ځواب ویلو، د یووالي او پیوستون لپاره هڅو، په ملي کچه د طالبانو پرضد د جبهې پیاوړي کولو، په اغېزناکه توگه له فساد سره مبارزې، په نړیواله کچه د افغانستان دریځ د پیاوړي کولو لپاره د فعالې ډیپلوماسۍ او د واک له لارې د سولې او مشروعیت له لارې د سولې خبرو ته د ننه کېدو پرځای یې په داخلي سیالیو ولگاوه.

که د وسلهوال ځواک اعلی سرقوماندان ۷ کاله وړاندې په ملي کچه د باور فضا رامنځته کولو او د ملي پوځ ترڅنگ د طالبانو ضد جبهې په فعالولو سره یې د افغان امنیتي ځواکونو دریځ پیاوړی کړی وای، نو د هېواد امنیتي او دفاعي ځواکونه به د طالبانو له بریدونو سره نه مخامخ کېدل. ښاغلي غني د ۲۰۱۹ کال د سویس په داوس کې په نړیواله اقتصادي غونډه کې وویل چې، واک ته د رسېدو له نېټې راهیسې ۴۵ زره افغان امنیتي او دفاعي ځواکونه وژل شوي دي. دا خورا لوړه شمېره ده. له ۲۰۱۹ کال وروسته، د امنیتي او دفاعي ځواکونو د تلفاتو شمېر ډېر لوړ شوی دی. اوس د پوځ اعلی سر قوماندان ظاهراً د سیاسي مشرانو په غېږ کې نیولو سره د خپلو تېروتنو لپاره د جبران لاره مومي. خو اوس ډېره ناوخته ده، د لویو فرصتونو له لاسه ورکولو سره د افغانستان د خلکو ۷ کلونه ضایع شول او د لندمهاله حل‌لارې په لټولو سره کوم درد نه شي دوا کېدای. خو هغه څه چې د اندېښنې وړ دي، د افغانانو لپاره ناڅرگند راتلونکی او برخلیک دی.

# د افغان جګړې ورځني تلفات يو ځل بيا لوړ شوي دي

◆ راپور: حسيب بهش
◆ ژباړه: م. ع. پ

د جګړې په ډګر کې ثبت شوي شمېرې ښيي چې په ۲۰۲۱ کې په افغانستان کې د ورځنيو تلفاتو منځنی شمېر د هرې ورځې په تېرېدو سره زياتېږي. د جګړې موسم له پای ته رسېدو مخکې هره ورځ په منځني ډول د نښتو، هوايي بمباريو او چاودنو په پايله کې ۷۵ تنه امنيتي ځواکونه، طالبان او ملکي وګړي وژل کېږي. په دې توګه، يوازې د ۲۰۲۱ کال په لومړيو ۶۴ ورځو کې، په ۳۳ ولايتونو کې نږدې ۵۰۰۰ تنه وژل شوي دي. دا شمېر په ټول تېر کال کې شاوخوا ۲۰۰۰ تنو ته رسېده.

په ۲۰۲۰ کال کې د افغانستان په جګړه کې د مړينې منځنۍ کچه ۵۷ تنه اټکل شوې وه. د شمېرو له مخې، سويلي حوزه، په ځانګړي توګه کندهار او هلمند ولايتونو، د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۱ کال په لومړيو کې د نښتو او تلفاتو ترټولو لوړ شمېر درلود. څه موده وړاندې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت افغان چارواکو ته په يوه ليک کې په هېواد کې د خرابېدونکي وضعيت او د طالبانو له لوري د نورو سيمو د سقوط د احتمال په اړه خبرداری ورکړی ؤ.

طالبانو د دوحې له هوکړې راهيسې په يو کلنه موده کې دا هم ويلي چې دوی د ډرون او توغنديو په ټکنالوژۍ سمبال دي او که امريکا د سولې له هوکړې سرغړونه وکړي نو په بې ساري ډول به تاوتريخوالي ته وده ورکړي. ويل کېږي چې امريکا او هغه هېوادونه چې د افغانستان په جګړه کې ښکېل دي اوسمهال يې د سولې انتقالي حکومت رامنځته کولو لپاره هڅې ډېرې کړې دي او د همدې لپاره غواړي د ترکيې په استانبول کې غونډه جوړېږي چې د تاوتريخوالي کمولو او د سولې بهير د ګړندي کولو لپاره زمينه برابره شي.

د پېښو، تاوتريخوالي او د وسله والو نښتو د سيمو پلټونکی بنسټ يا «ACLED» په خپلو خپرو شويو شمېرو کې ښيي چې د افغانستان جګړه په ۲۰۲۱ کال ورځ تربلې مخ په پراخېدو ده. د دغه بنسټ د شمېرو په اساس لږترلږه ۷۷۷ نښتې، چاودنې، هوايي بريدونه او تاوتريخوالي د روان زېږديز کال په لومړيو ۶۴ ورځو کې شوي دي. په دغو شمېرو کې يو زرو او ۱۵۱ نښتې، ۵۰۳ چاودنې او هوايي بريدونه، د ملکي وګړو پروړاندې د تاوتريخوالي ۱۲۱ مستقيم موارد او دوه د شخړو پېښې شاملې دي. په دې توګه په افغانستان کې د دغو تاوتريخواليو له امله څلور زره او ۸۳۴ تنه وژل شوي دي. په وژل شويو کې امنيتي ځواکونه، طالب جنګيالي او ملکي وګړي شامل دي. دا تلفات په ساړه موسم کې د جګړې ښکېلو خواو او ملکي وګړو ته اوښتي دي.

د دغو شمېرو پربنسټ، د کندهار، ننګرهار، هلمند او بلخ اوسېدونکي د روان زېږديز کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې د مارچ تر پنځمې پورې د ترټولو ډېرو نښتو او چاودنو شاهدان ؤ. د ټولو ۳۴ ولايتونو له جملې په ۳۳ ولايتونو کې د نښتو، هوايي بريدونو او چاودنو موردونه ثبت شوي او يوازې په پنجشير ولايت کې د روان زېږديز کال په لومړيو دوو مياشتو

پاتې په ۱۲م مخ کې



# ادبي ورشو



## زموږه پسرلی

جنگونو ځورولـــی دی زمونـــږه پســـــــرلی
لوخـــړو سوزولـــی دی زمونـــږه پســـرلی
گلـــونو کی د وینـــو رنـگ له ورایه معلومیږي
ســرو وینــو لمبـــولی دی زمونږه پســـرلی
دا پـــرښـــه نه ده دا چې په گلـــونو راوریـــږي
ظلمـــونو ژړولـــی دی زمونـــږه پســـــــرلی
وطـــن مو د پسرلي په هیله ډېر کلونه تېر کړل
دا چا په بنـــد نیـــولی دی زمونږه پســـــــرلی
خاونده دا ویجاړ وطن مو خلاص کړې له جنگونو
(قتیـــله) زېړ زبېښلی دی زمونږه پســرلی

قتیل خوږیانی

---

خدایه!څه شول هغه ښکلی ښکلی خلک
په ظاهر په باطن سپین سپېځلی خلک
هېڅ خندا مې له دې خلکو سره نشي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلک
خبر نه یم، چې و کومه خوا ته لاړ شه
لیده نشي هغه ما لیدلي خلک
لکه لمر چې د اورو په څوکه درومي
هسې درومي په دنیا راغلی خلک
دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغی
له جهانه په ارمان وتلي خلک
لکه څگ چې د اوبو په مخ کې درومي
هسې درومي په دنیا راغلي خلک
هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي
په چووه او په چندن لړلي خلک
رحمان هسې گوښې خوند له خلکو بیا موند
چې هرگز نه دی دا خوند موندلی خلکو

رحمان بابا

## لنډۍ

ما د گودر په غاړه خښ کړئ
چې جنکی مې مات بنگړي په قبر ږدینه

ما د نصیب نه تېښته وکړه
نصیب زما د لارې مل راسره ځینه

ما خو د لیرې نه صحې کړې
نور دې په تورو زلفو مه وهه لاسونه

ما سره سم گودر ته لاړ شه
منگې مې دوه دې نړی ملا مې ماتوینه

ما ته مې وړی زړگی راکړه
زه وم نادانه په یاری نه پوهېدمه

ما له وروکې ریبار ځار کړې
چې یوه خبره دوه ځلې راته کوینه

ما وېل یوازې زما یار یې
د اختر ټال یې هر سړی دې زنگوینه

ما وې د غمه به دې مړ شم
قسم دی یاره بې نېټې نشته مرگونه

ما یارانه کله کوله
سرتور ولاړ وې له ښېرو دې وېرېدمه

ما یې د ورور د سترگو ځار کړې
ده به د خور سترگو ته ډېر کتلي وینه

ما ته دې دومره دیدن بس دی
چې په کوڅه کې پښه نیولی شې مینه

ما ته رباب په لاس کې راکړئ
چې زه د خپلې ځوانۍ ویر پکې کومه

# مریدنامه ۱۵

◆ **لیکوال خېړنوال عبدالغفور لیوال**

ښار نیم ودان و او نیم وران. چې ماښام شو، د ښار په ودانه برخه کې د ساز وسرود غږ شو، په میخانو کې رڼا ګانې بلې شوې، په کوڅو کې ځینو ښاریانو نڅا پیل کړه، خود نیمایي وران ښار دخلکو دژړاوو غږ پورته شو. ښځو په کریغو کریغو ژړل او نارینه وو خپلې ږیرې شکولې. عجیبه وه، یو ښار و، خو نیمو ښاریانو ګډل او سازونه یې غږول، نیمایي نورو ماتم نیولی و او کریغې یې وهلې، د نیم وران ښار ماشومان کوڅو ته راوتلي وو، د نیمایي ودان ښار جشن ته یې خولې خلاصې پاتې وې، دا ماشومان وږي وو او د جشن له سیمې ځخه د کبابونو او چرګانو بوی دوی ته عجیب ایسېده.

مرید خپل ببرسرې پیر وپوښت: یا دستګیره پیره دا څه راز دی؟

پیر کړس کړس وخندل، پر ملا کوږ وږ شو: کلونه وړاندې د اوسني ودان ښار خلک د اوسني نیمایي وران ښار د اوسېدونکو له لاسه له ښاره وتلي وو، پردیو ورته وسلې ورکړې او پر ښار رانږتل، بیا یې نو له نیمایي ښار ځخه کسات پیل کړ، ویې وژل، لوټ یې کړل او بې عفته یې کړل. د دوی هرڅه یې راوړل او دلته یې پرې ځانونه ته ماڼۍ ودانې کړلې. دوی پر همدغې ورځ پر ښار رانږتلي وو، پرهمدې ورځ یې لوټ او وژنې پیل کړې وې، همدا ورځ د لوټمارو د ابادۍ او مړینت د پیل ورځ وه. هغه ورځ چې ورور د خپل ورور وینه تویې کړه او د تره زوی د خپل تربور کور لوټ کړ.

بس له هماغې ورځې راهیسې نیم ودان ښار جشن نیسي او نیم وران ښار ماتم. دا د دوی د هرکال عادت دی. د ودانو ماڼیو اوسېدونکي د خپلې سوبې جشن نیسي او د نیم وران ښار وږي ښاریان د خپلې تباهۍ کالیزې ته ژاړي. د ماڼیو اوسېدونکي د کنډوالو خلک کافر ګڼي او د کنډوالو غمځپلي د ماڼیو اوسېدونکي غله، قاتلان او د پردیو غلامان بولي.

د ښار دواړه برخې ټول کال لګیا وي، نیمایي جشن ته او نیمایي نور ماتم ته ځان چمتو کوي، د دغو ښاریانو ټول عمر په همدې ناندریو کې تیریږي، هېڅوک د ښار د راتلونکې لپاره هڅه نه کوي. دا ښار د جشنونو او ماتمونو ښار نومیږي.


ماښام تېر و، چې د تیارو ښار (تاریکاباد) ته ورننوتل، ښار ټول تیاره و. په کورونو کې ځراغونه نه ښکاریدل. دلته د سپوږمۍ رڼا هم نه وه، سپوږمۍ له دې ښاره په غلا تېربده او په اسمان کې ستوري هم بخیل ښکاریدل، ښایي نه یې غوښتل دې ښار ته رڼا ورکړي.

مرید وپوښتل: پیره ! کوربان دې شم، د دې ښار قسمت یې ولې په تیارو لیکلی؟

ببرسري وخندل، په تیاره کې یې سترګې وځلېدې او ځواب یې ورکړ: د دې ښار اوسېدونکي د خپلو ځراغونو د روښانولو اراده او پوهه نه لري. کلونه وړاندې یې له ګاونډیو ښاریانو څخه رڼا د زرینو سکو په بیه اخیستله، ګاونډیو خپله رڼا پر دغو ښاریانو خورا ګرانه پلورله، نیمې پیسې یې په خپله خزانه کې اچولې او نیمې نورې یې په دې لګولې، چې د دې ښار اوسېدونکی د خپلو ځراغونو د بلولو پوهه هېڅکله ورخپله نه کړي، ګاونډیو د دې ښار اخوندانو ته پیسې ومنلې، چې د خپلو (ځراغونو روښانول ) ناروا وګڼي او له ګاونډیو ښځه د ( رڼا ) ګدایي روا کړي.

ښاریانو له ګاونډیو ښځه رڼا په بیه اخیستله او د زرو سکې یې ورکولې، د تیارو د ښار زورورو به رڼا وړیا غوښته او د غریبو ښاریانو د رڼا په حق یې خېټه اچوله، د ښاریانو زرینې سکې ورو ورو خلاصېدې او نور نو په ښار کې د رڼا اخیستلو لپاره زر پاتې نه شول، بیا نو ښاریان د ګاونډیو پر رڼا سره ونښتل او پر پردۍ رڼا یې یو د بل سرونه مات کړل، خو هیڅ دوی ته د خپلو ځراغونو د روښانولو چل ورو نه ښود. کلونه کلونه کیږي، چې د تیارو د ښار اوسېدونکي د پردۍ رڼا پر سر یو له بل سره دوښمن دي او ښار همداسې تیاره دی.

مرید د ( تاریکاباد) په هره ځنډه کې بهانده رڼا ولیدله چې ځنګه په پټه له دې ښار ښځه وځي او د ګاونډیو ښارونو کورونه، کوڅې او ذهنونه روښانوي، خو تاریکاباد لا هم تیاره دی.




# د «بغاوت» په نوم ناول د چاپ په ګاڼه سینګار شو

◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

بغاوت کتاب په ۱۱۰ مخونو کې د ښاغلي خان محمد ذهین لیکل شوی ناول دی، چې د ناسمو غوښتنو، کړنو او ډېرو نورو ستونزمنو لارو پر وړاندې د یوې جوړې (خاوند او مېرمنې) مبارزه پکې بیان شوې ده. دا کتاب تازه په ننګرهار کې چاپ او بازار ته وړاندې شو.

ښاغلي ذهین له ۸صبح سره په خبرو کې وویل له کلتوري محدودیتونو نیولې تر ډېرو نورو غمونو پورې د ټېټ سرې زغم پرځای د بغاوت سر پورته کول، خپل حق غوښتل، د پردیو موخو له ښکار کېدو ځان ساتل او نور ډېر څه دغه ناول په خپله لمن کې لري.

**د ۹م مخ پاتې برخه**

کې هېڅ پېښه نه ده ثبت شوې. د تلفاتو د شمېرو په اساس، کندهار د یو زر او ۵۱ تنو، هلمند د ۴۹۹ تنو، ننګرهار د ۳۸۹ تنو، ارزګان د ۲۷۵ تنو، کندز د ۲۶ او بلخ د ۲٦۱تنو تلفاتو په لرلو په ترتیب د لړلیک ترټولو ډېرې قرباني ورکړې دي. په کابل کې هم د نښتو ۲٦ موردونه، د چاودنو ۴۷ او د ملکي وګړو پروړاندې د تاوتریخوالي ۱۳ موردې ثبت شوي چې په پایله کې یې ۱۲۱ تنه وژل شوي دي.

په دغو شمېرو کې د شخړو اوه موارد هم شامل دي چې د هرات، کندهار، غزني، غور، پکتیا او پکتیکا په زندانونو کې شوي دي.

د ۲۰۲۱ کال په لومړیو ٦۴ ورځو کې د دغو شمېرو په ثبتولو سره افغانستان یو ځل بیا د وګړو لپاره د وژونکو هېوادونو د نوملړ په سر کې راغلی. په دې توګه د وژل شویو وګړو شمېر په منځني ډول هره ورځ ۷۵ تنو ته رسېږي. له افغانستان وروسته یمن د یو زر او ۲۷۸ پېښو او درې زره او ۲۳۳ وژل شویو مواردو په درلودو سره دویم او سوریه د یو زر او ۸۴۷ پېښو او یو زر او ۳۲۷ وژل شویو په لرلو سره دریم هېواد دی. د سوریې په جګړه کې په روان زېږدیز کال کې د وژنو منځنی شمېر په ورځیني ډول ۵۰ تنه او د یمن په جګړه کې شاوخوا ۲۰ تنو ته رسېږي. ویل کېږي چې اکلېډ د افغانستان د جګړې دغه شمېر د ملي وزارت او طالبانو ډلې د شمېرو په اساس راټولوي او د رسنیو او د خپلې کارې ډلې لخوا له تایید وروسته په اونیز ډول ورته کوډونه ږدي او ثبتوي یې. دغه بنسټ په ټول کې د وژل شویو شمېرو یا شمېرنو په اړه راپور ورکوي او د پېښو په جزئیاتو کې د ټپیانو او نیول شویو وګړو شمېر هم ترتیبوي. ویل کېږي چې اکلېډ ټولې پېښې د ځانګړو کوډونو په ثبتولو، د پېښو نېټو، ځایونو او د وژل شویو شمېرو سره ثبتوي.

**په تلفاتو کې لړ کموالی؛ افغانستان په ۲۰۲۰ کال کې د وګړو لپاره د نړۍ ترټولو وژونکی هېواد ؤ**

په ۲۰۲۱ کال کې پر دغو شمېرو سربېره، افغانستان په ۲۰۲۰ کال کې د وګړو لپاره ترټولو وژونکی هېواد ؤ. د تېر زېږدیز کال له جګړې د اکلېډ ارزونې او څېړنې ښیي چې د سولې پر مذاکراتو سربېره ۲۰ زره او ۷٦۰ افغانان د نښتو، چاودنو او هوایي بریدونو له امله وژل شوي دي. دغه تلفات د شپږ زره او ۵۹۹ ثبت شویو پېښو له امله رامنځته شوي چې څلورزره او ۵۹۹ نښتې، یو زر او ۹٦۷ چاودنې او هوایي بریدونه او ۴۲۲ ملکي وګړو مخامخ د تاوتریخوالي موردونه او همدارز د شخړو ۷ مورده پکې شامل دي. په ۲۰۲۰ کال کې د تاوتریخوالي ترټولو ډېرې پېښې د هېواد په سویلي حوزه کې رامنځته شوي دي. کندهار د ۳۵۵ نښتو، ۱۹٦ چاودنو او هوایي بریدونو، پر ملکي وګړو د مخامخ تاوتریخوالي ۲۳ موردونو او په زندان کې د شخړې یو مورد په لرلو سره چې په ټول کې دوه زره او ۹۲۲ د وژلو پېښې کېږي، په ۲۰۲۰ کال کې د وګړو لپاره د هېواد ترټولو وژونکې ولایت ګڼل شوی دی. په دې نوملړ کې هلمند، ارزګان او زابل په دویم، دریم او څلورمو درجو کې راغلي دي.

د اکلېډ د شمېرو له مخې، د پنجشېر ولایت په ګډون ټول ولایتونه په ۲۰۲۰ کال کې د تاوتریخوالي شاهدان ؤ. خو په ورته وخت کې د تلفاتو هېڅ یوه پېښه د پنجشېر په ارامه ولایت کې نه ده ثبت شوې. وروسته له دې ولایته بامیان د ۳۰ تنو، نورستان د ۴۷ او دایکندي د ٦۷ تنو په لرلو د وژل شویو وګړو ترټولو کمه شمېره لري. په ټول کې په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې په منځني ډول هره ورځ د وژنو شمېره ۵۷ تنو ته راکښته شوې وه. دغه شمېر په ۲۰۱۹ کال کې ۱۱۳ تنو، په ۲۰۱۸ کال کې ۱۱۷ او په ۲۰۱٦ کال کې ۹٦ تنو ته رسېدله. له ۲۰۱٦ کال راهیسې د افغانستان، سوریې او یمن د تلفاتو منځنیو شمېرو ته په کتو، ویلی شو چې افغانستان د وروستیو پنځو کلونو په څلورو کلونو کې په منځنۍ توګه د وژل شویو کسانو ترټولو درنه شمېره لري. د جګړه ځپلو هېوادونو ترمنځ یوازې روسیې په ۲۰۱٦ کال کې د ډېرو وژل شویو وګړو منځنۍ شمېر ثبت کړی و. له هغې راهیسې په هېواد کې په ورځني ډول د وژل شویو وګړو شمېر ۱۴۴ تنو ته رسېده.

اکلېډ یوه نادولتي موسسه ده چې له ۱۹۹۷ کال راهیسې د پېښو او شخړو په اړه معلومات ثبتوي. دا اداره پېښه، د پېښې ډول، د پېښې نېټه، د پېښې عاملین، قربانیان او د پېښې د ځای یا موقعیت په اړه معلومات ټولوي او بیا یې په ځانګړو کوډونو سره ثبت او تحلیلوي. اکلېډ دا مهال د نړۍ ۱۹۱ هېوادونه تر خپل پوښښ لاندې راوستي او له پیل راهیسې یې شاوخوا یو میلیون شخړې مستند کړې دي. په دې کې کوچنۍ شخړې، لاریونونه او په بېلابېلو هېوادونو کې سیاسي تاوتریخوالي هم راځي.

د افغانستان د جګړې د ورځنیو تلفاتو په زیاتېدو سره امریکا په استانبول کې د بُن لومړۍ غونډې ته ورته ناستې د جوړېدو لپاره هڅې پیل کړې دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن ولسمشر غني او د ملي پخلاینې عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله ته په یوه لیک کې د افغان سولې بهیر په اړه یې د جو بایډن اداري د لیدلوري په اړه وضاحت ورکړی دی. نوموړي د سولې بهیر د پایلو په اړه ټینګار کړی او د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته یې د افغانستان د ترینګلي وضعیت په اړه افغان چارواکو ته خبرداری ورکړی دی. له دې مخکې د طالبانو ډلې مرستیال سراج الدین حقاني په یوه غږیز پیغام کې خپلو جنګیالیو ته داډ ورکړی ؤ چې که په هغه صورت کې د امریکا له لوري د دوحې هوکړه تر پښو لاندې شي نو په خپلو شته امکاناتو سره به تاوتریخوالي په بې مخینې توګه ډېر کړي. دا په داسې حال کې ده چې افغان امنیتي ځواکونو په تېرو میاشتو کې د جګړې موسم د چمتووالي په اړه ځرګندونې کړې وې. په دې توګه ښایي چې د جګړې موسم ته د ننه کېدو په صورت کې به د ۲۰۲۱ زېږدیز کال د لومړیو ٦۴ ورځو په پرتله په افغانستان کې د تلفاتو ورځنی شمېر څو چنده لوړ شي.

# فاسده اداره
## او بې انګېزې مامور

◆ لیکنه: سادات
◆ ژباړه: م. ع. پ

انګېزه یا د موخې لرل او کاري خوځښت د دولتي او یا نادولتي مامور د ورځنیو مسؤلیتونو د مخکې تګ له مهمو عواملو څخه دي او د مدیریت په بحثونو کې هم د اداري د بریالیتوب لپاره انګېزه مهم رول لري. د کارکوونکي لپاره د انګېزې او موخې نه لرل، د هڅونې نشتون او ناځرګند راتلونکی یوه اداره له ناکامۍ سره مخ کولی شي. په یوه اداره کې غیرمسلکي، غیرقانوني او سلیقه یي ګمارنې د سلهاوو موخه لرونکو، زړه سواندو او پروګرام لرونکو مامورینو انګېزه له منځه وړلی شي. د رهبرۍ له اړخه یوه کمزوري او ناکاره اداره یوې ماتې بېړۍ ته ورته ده چې هره شېبه له خطر او ګواښ سره مخامخ وي.

محمد اشرف غني په خپل «د ناکامو دولتونو جوړول» کتاب کې بنسټ جوړونه او د بنسټونو اغېزناکتوب د دولتونو د بریالي کېدو لار ګڼلې ده، دا په داسې حال کې ده چې د حکومتولۍ کارنامه یې ښیي چې نوموړي پر اداري او بنسټ جوړونې هېڅ ډول باور نه دی لرلی.


بنسټ جوړونه د تېرو شلو کلونو یوه لاسته راوړنه ګڼل کېږي، خو بنسټ یا اداره په اساسي او معنی لرونکې بڼه جوړه نه شوه؛ ځکه چې د حکومتي مشرانو په بنسټ او بروکراسۍ باور یې باور نه درلود او ترټولو لویې اداري او بنسټونه ترټولو ناکامه او کمزورو وګړو ته وسپارل شول. په تېرو ۷ کلونو کې او د ملي یووالي حکومت په رامنځته کېدو سره د ادارو او وزارتونو مسؤلیتونه ترټولو کمزورو او غیر مسلکي کسانو ته وسپارل شول چې پایله یې په ادارو کې په منځنۍ او ټیټه کچه د انګېزې نشتون او د بنسټونو نه کارندوالی دی.

په ادارو کې غیرشفافې ګمارنې او په دې برخه کې سلیقوي او سیاسي چلند تقریبا د ټولو ادارو مامورین بې انګېزې او بې موخې کړي دي. په دې وروستیو کې په پوهنې او مالیې وزارتونو کې اړو دوړ له هغه حقیقته پرده پورته کوي چې ولسمشر د وړتیا او تخصص پرځای وفادارۍ او سیاسي ژمنتیا ته ارزښت ورکوي. ډېری وزیران، سفیران او والیان د یوه ټیټ بست لرونکي مامور د چارو د مختـه وړلو وړتیا نه لري او په سلهاوو انګېزه او تجربه لرونکي کارکوونکي داسې وضعیت ته په کتو سره بې انګېزې شوي او ظرفیت یې ورځ په ورځ ضایع کېږي.

اوسمهال وزارتونه او اداري په سیاسي لاملونو، سلیقوي چلندونو او بې ډوله ګمارنو د اغېزناکتوب او کاري پایلو له اړخه په ترټولو ټیټه کچه کې دي او مامورین د کدري عدالت نشتون او د معاشونو په ورکړه کې د برابرۍ د نشتوالي او د ناځرګند کاري راتلونکې له امله د خپلو مسؤلیتو د ادا کولو پرځای پر ټولنیزو رسنیو بوخت دي او په یوټیوب کې فلمونه ګوري او د ادارو اړتیاو ته په سمه توګه پاملرنه نه کوي.

وزیران او مرستیالان یې هم خپل فعالیتونه د ناځرګندو او بې محتوا لیدنو له لارې ننداري ته وړاندې کوي. د غوړه مالۍ چاپېریال پر ټولو ادارو سیوری غوړولی او که یو څوک غواړي د یوې اداري لوړ بست او یا هم مشري په لاس کې واخلي هڅه کوي چې د غوړه مالۍ هنر کې خپله وړتیا ثابته کړي.

پخوا د انسانانو وجدانونه ویښ ؤ او له ادارو او بنسټونو سره د ماشومانو په څېر چلند نه کېده او د شرایطو نه لرونکي وګړي به اخلاقا د لوړې څوکۍ مسؤلیت نه مانه، خو اوسمهال د مهمو او لویو بنسټونو مشري ترټولو کم لوستو کسانو ته سپارل کېږي. حکومتي چارواکي ټول وضعیت ته په کتو سره له بده مرغه له ادارو سره سلیقوي او داسې چلند کوي چې ګواکې اداري او بنسټونه د دوی مال او پلرنی میراث دی او هېڅوک نه شي کولی په دې هکله پوښتنه او نیوکه هم وکړي. د افغانستان حکومت د ادارو او بنسټونو جوړښت یوه لویه لاسته راوړنه ګڼي، خو مهمې څوکۍ فاسدو، نالایقه، بې ژمنو او غیرمسلکي کسانو ته سپارل کېږي. د یوه بنسټ مدیریت کول یوازې د ځلورو دېوالونو، څو مېزونو او دوسیې مدیریت نه دی، بلکې د یوې اداري د چارو مخته وړل مسلکیتوب، ښه چلند، د تجربې لرل او په ټول کې له کارکوونکو په ښه توګه ګټه پورته کول دي.






# درې خبریالان په افغانستان کې د کال د خبریالانو په توگه غوره شول

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د افغانستان د خبریالانو مرکز د خبریال د ورځې په مناسبت، د ۸صبح ورځپاڼې د سولې برخې د مسوولې په گډون درې تنه د کال د خبریالانو په توگه وټاکل.

دغه مرکز د کب په ۲۷مه نېټه د افغانستان د کال د خبریالانو د سیالۍ پروگرام پایلې اعلان کړې. ددغه مرکز د اعلان پر بنسټ، د ۸صبح د سولې برخې مسووله آسیه حمزه ای، د پیک خبري آژانس خبریاله فخریه رادفر او د اطلاعات روز ورځپاڼې خبریال لیاقت لایق په افغانستان کې د کال د خبریالانو په توگه غوره شوي دي.

آسیه حمزه ای د ۸صبح ورځپاڼې د سولې برخې مسووله ده چې د سولې بحثونو او هوکړه لیکونو پر ارزونې سربېره، د جگړې د قربانیانو او ښځو د حقونو په برخو کې هم پراخ فعالیت لري.

ددغو درېیو خبریالانو ترڅنگ لس نور خبریالان هم د افغانستان د خبریالانو مرکز له خوا د کال د غوره خبریالانو په توگه ټاکل شوي دي.

د ۸صبح ورځپاڼې تحقیقي خبریال مجتبی بیگ زاده هم د روان کال د غوره خبریالانو په ډله کې راغلی دی.

بیگ زاده د تحقیقي رپوټونو له هغې ډلې د کورونا او وچې ډوډۍ د پیسو د حیف ومیل په اړه راپورونو په خپرولو، د رنو څېړنو او څارنوالۍ ته د عاملینو د معرفي کولو زمینه برابره کړې ده.

د افغانستان د خبریالانو مرکز یو خپلواک او غیرسیاسي بنسټ دی چې په ۱۳۸۸ کال کې جوړ شوی دی.

دا بنسټ وخت ناوخت د خبریالانو د ظرفیت د لوړولو او د دوی د خوندیتوب لپاره علمي او تخصصي پروگرامونه، د خبریالانو د حقونو لپاره د عدالت غوښتنې او د هېواد د غوره خبریالانو او مخکښو رسنیو د ستاینې په موخه پروگرامونه جوړوي.

# د اسلام کلا د اورلګېدنې په اړه شکونه تراوسه پر خپل ځای دي



◆ لیکوال: محمد حسن نېک خواه
◆ ژباړن: م. ظریف صمیم

د هرات د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کې د لويې اورلګېدنې د ارزونې لپاره د ولسمشرۍ ماڼۍ د پلاوي له سفره د کابو درېيو اونيو په تېربدو، ددغه پلاوي غړي د خپلو څېړنو د پايلو جزيات نه ورکوي. د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزارت چارواکي چې د دغه پلاوي مشري پرغاړه لري، چمتو نه دي په دې اړه څه ووايي. د هرات د ولايتي شورا غړي، دغه ولايت ته د جمهوري رياست پلاوي د سفر موخه تفريح او چکر وهل وبلل او ټينګار لري چې ددغه پلاوي د څېړنو پايلې بايد د ارزونو له پای ته رسېدو وروسته د رسنيو له لارې له خلکو سره شريکې شوې وای. په اور لګېدو کې زيانمن ادعا لري چې ميليونونه ډالر زيان ورته رسېدلی او افغان حکومت بايد د دوی خساره ورکړي. دوی خبرداری ورکوي که حکومت تر راتلونکو لسو ورځو زيانمنو ته د قناعت وړ ځواب ورنه کړي، د پراخو اعتراضونو په ترسره کولو به د هرات ـ اسلام کلا او هرات تورغونډۍ لويې لارې وتړي. **د هرات سيمه ييزه اداره ټينګار لري چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د پلاوي رپوټ له سيمه ييزو چارواکو سره نه دی شريک شوی او د پلاوي غړو د څېړنو پايلې د مرکزي حکومت چارواکو ته سپارلې دي. په ولسي جرګه کې د هرات استازي له حکومته غواړي زيانمنو ته خساره ورکړي.**

د هرات د اسلام کلا ګمرک له لويې اورلګېدنې څو ورځې وروسته، د کب په څلورمه نېټه د ولسمشر غني په حکم د ولسمشرۍ دفتر له خوا پلاوي ددې پېښې د ارزونې لپاره هرات ته سفر وکړ او په دې اړه يې د هراړخيزې څېړنې خبر

ورکړ. د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزیر غلام بهاءالدین جیلاني چې د پلاوي مشري یې پر غاړه لرله، په هرات کې په خبري ناسته کې وویل چې د دوی له خوا له هراړخیزې څېړنې وروسته به ولسمشرۍ دفتر زیانمنو ته د خسارې د ورکولو په اړه تصمیم ونیسي. د هغه د مالوماتو پر بنسټ، د ترانسپورت، کورنیو چارو، صنعت او سوداګرۍ او مالیې وزارتونو، لویې څارنوالۍ او امنیت شورا په ګډون ۱۵ حکومتي بنسټونو استازي ددغه پلاوي غړیتوب لري. ټاکل شوې وه د ولسمشرۍ ماڼۍ له لوري د لېږل شوي پلاوي غړي هرات ته په سفر کې د پېښې د څرنګوالي په اړه او همداراز د ګرمو کسانو په ګوته کولو سره د ارزونو پایلې د رسنیو له لارې له خلکو سره شریکې کړي، خو پلاوي د جزیاتو له ورکولو پرته کابل ته راستون شو. هرات ته د نوموړي پلاوي له سفره مخکې ځینې موټر چلوونکو او سوداګرو چې موټر یې په اور کې سوځېدلي وو، ادعا یې کړې وه چې د پلاوي ورتګ ورته د منلو وړ نه دی او باید د موټرچلوونکو او سوداګرو استازي هم په څېړنو کې ګډون ولري، خو د پلاوي غړو ټینګار وکړ چې د ترانسپورت وزارت استازي د څېړنو پایلې او جزیات له موټر چلوونکو او سوداګرو سره شریکوي.

**د هرات په اورلګېدنه کې د زیانمنو سوداګرو او موټر چلوونکو استازي بصیر آرین ۸صبح ته وویل چې د پلاوي غړو له زیانمنو سره د خپلو څېړنو پایلې شریکې نه کړې او روښانه نه شوه چې د پېښې په هکله د دوی په رپوټ کې کوم موردونه شامل دي. د هغه په وینا، د موټر لرونکو او د ولسمشرۍ د پلاوي په وړاندې د کره او ریښې ارزونې پربنسټ کابو ۱۲۵۴ موټر سوځېدلي او ټاکل شوې چې حکومت د دغو موټرو خاوندانو ته د قیمت پربنسټ خساره ورکړي.**

ښاغلي آرین وایي چې ولسمشر په ویډیویي ناسته کې د هرات د سیمه ییزو چارواکو په مخکې ژمنه وکړه چې زیانمنو ته خساره ورکول کېږي، خو ولسمشرۍ دفتر ته د پلاوي د رپوټ له رسېدو د یوې اونۍ په تېرېدو سره، ولسمشر دغه رپوټ ته غبرګون نه دی ښودلی. نوموړي خبرداری ورکوي که حکومت تر لسو ورځو زیانمنو ته د قناعت وړ ځواب ورنه کړي، دوی به په پراخو اعتراضونو سره د هرات ـ اسلام کلا او هرات ـ تورغونډۍ لویې لارې وتړي او ددغو لارو په تړلو سره به حکومت ته میلیونونه ډالر زیان ورسېږي.

له بلې خوا، د هرات د ولایتي شورا یو شمېر غړي ټینګار لري چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د پلاوي د ارزونو پایلې باید په خبري ناسته کې له خلکو، د ولایتي شورا له غړو، رسنیو او زیانمنو سره شریکې شوې وای او د پلاوي او مرکزي حکومت چوپتیا د خلکو لپاره د منلو وړ نه ده.

**د هرات د ولایتي شورا مرستیال توریالی طاهري له ۸صبح سره په مرکه کې وایي چې تراوسه د حکومت د استول شویو پلاویو د ارزونو پایلې له خلکو سره نه دي شریکې شوې نو هرات ته د ولسمشرۍ دفتر له لوري د پلاوي د لېږلو موخه تفریح او چکر وهل و.**

د ولسي جرګې غړي ټینګار لري چې حکومت باید په ړنه توګه د ولسمشرۍ ماڼۍ د پلاوي د څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې کړي او روښانه کړي چې د اسلام کلا ګمرک د اورلګېدو په غمیزه کې څوک ګرم وو. په ولسي جرګه کې د هرات استازی نذیر احمد حنفي باور لري چې د پارلمان له خوا د استول شوي پلاوي غړو د خپلو ارزونو له بشپړولو وروسته د څېړنو لومړنۍ پایلې له خلکو سره شریکې کړې او ټاکل شوې د ولسي جرګې په عمومي ناسته کې هم دا موضوع په هراړخیزه توګه بیان شي.

اخوا، د هرات مدني فعالین هم باوري دي چې حکومت د اسلام کلا ګمرک د اورلګېدو په قضیه کې ګرم دی او له همدې امله، د ولسمشرۍ ماڼۍ پلاوي د خپلو څېړنو پایلې له خلکو، رسنیو او مدني فعالینو سره نه دي شریکې کړې. د هرات مدني فعال جواد عمید ۸صبح ته وویل چې په وروستیو کلونو کې د حکومتي پلاویو هڅې د خلکو د ستونزو په کمولو کې اغېزمنې نه وې او هراتیان پر دغو پلاویو باور نه لري.

د هرات د کانونو او صنایعو خونې مسوولین وایي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د پلاوي د څېړنو د پایلو ځینې برخې له سوداګرو او صنعتکارانو سره شریکې شوې دي. ددغې خونې رییس حمیدالله خادم وایي، د پلاوي غړو ادعا کړې چې د خپلو څېړنو پایلې له مرکزي حکومت سره شریکوي. د هرات سیمه ییزه اداره وایي چې د پلاوي د څېړنو پایلې به له مرکزي حکومت او وروسته له خلکو سره شریکې شي؛ خو د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد د پلاوي د څېړنو د پایلو په اړه څه نه وایي.

له بله پلوه، د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزارت چارواکي د پلاوي د ارزونو او ولسمشرۍ دفتر ته د رپوټ د برخلیک په اړه د مالوماتو له ورکولو ډډه کوي. د پېښو په وړاندې د چمتووالي په چارو کې د دولت وزارت ویاند احمد تمیم، د ۸صبح ورځپاڼې د تلیفوني اړیکې په ځواب کې وویل چې هغه په دې هکله مالومات نه شي ورکولی او په خپله وزیر باید ولسمشرۍ دفتر ته د پلاوي د رپوټ په اړه خبري وکړي.

**د زیانمنو سوداګرو او موټر چلوونکو استازي ادعا لري چې په دغه پېښه کې اصلي ګرم افغان حکومت، د نورم او ستندرد اداري او تي سي آر سي شرکت مسوولین او هغه کسان دي چې په پراخ فساد سره یې غوښتل په سون توکو بار موټر له اصلي وزن په کمه اندازه د محصول لپاره ګمرک کړي.**

په داسې حال کې چې د اسلام کلا په سرحدي ګمرک کې له لویې اورلګېدنې کابو یوه میاشت تېرېږي، حکومت او د ولسمشرۍ ماڼۍ له خوا لېږل شوی پلاوی تراوسه نه دی بریالی شوی چې ددې پېښې عاملین او ګرم وګړي په ګوته او خلکو ته یې معرفي کړي.

# د لوړو زده کړو وزارت مالوماتي بانګ پرانیستل شو



◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظریف صمیم

د لوړو زده کړو وزارت د کب په ۲٦مه نېټه خپل مالوماتي بانګ پرانیست. دغه وزارت وایي چې دا کار مالوماتو ته د هېوادوالو د لاسرسي په موخه شوی دی.

د لوړو زده کړو وزیر عباس بصیر له همدې امله جوړو شویو مراسمو کې وویل چې مالوماتي بانګ د بیان آزادۍ د دودولو او مالوماتو ته د لاسرسي قانون د اجرا په موخه جوړ شوی دی.

نوموړي همداراز د لوړو زده کړو په وزارت کې د مالوماتي بانګ د جوړولو موخه د اداري فساد په وړاندې مبارزه، د روڼتیا د راوستو او ښې حکومتولۍ په برخه کې د اطلاع رسوني بهیر ښه کول وبلل.

مالوماتو ته د لاسرسي د کمېسیون رییس عین الدین بهادري چې په دغو مراسمو کې یې وینا کوله ووېل چې د بیان آزادي د هېوادوالو اساسي حق دی چې د خبریالانو له خوا یې ساتنه کېږي.

بهادري زیاته کړه چې نړۍ د ډیجیټلي حکومتولۍ په لور روان دی او د محتوا له تولید او آنلاین سیستم پرته د مډرن افغانستان انځور وړاندې کول ناشوني دي.

د افغانستان د خبریالانو د ملي ټولنې اجرایي رییس فهیم دشتي په دغه ناسته کې پر دولت نیوکه وکړه چې مالوماتو ته د لاسرسي په برخه کې یې لازم اقدامات نه دي کړي. د هغه په وینا، خبریالان تل مالوماتو ته له نه لاسرسي شکایت لري.

د لوړو زده کړو وزارت ویاند حامد عبیدي وایي چې اطلاعاتي بانګ، مالوماتو ته د لاسرسي قانون پربنسټ جوړ شوی دی. د هغه په وینا، تراوسه د لوړو زده کړو وزارت په مالوماتي بانک کې کابو دوه زره سندونه ثبت شوي دي.

د لوړو زده کړو وزارت د مالوماتي بانګ له پرانیستلو سره په یو وخت، د دغه وزارت چاراکو د خبریالانو ورځ هم ولمانځله.



# جاپان له افغانستان سره ۱،۸ میلیون ډالره مرسته کوي

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظریف صمیم

په کابل کې د جاپان سفارت اعلان کړی چې ددغه هېواد دولت له افغانستان سره د ساري ناروغیو په وړاندې د مبارزې د پروژو د پیاوړتیا لپاره د کابو ۱،۸ میلیون ډالرو مرسته کوي.

په افغانستان کې د جاپان سفارت شارژدافیر تاکاهشي او په افغانستان کې د روغتیا د نړیوال سازمان مسوول، د کب په ۲۵مه په دې اړه یوه هوکړه لاسلیک کړه. ددغې هوکړې د لاسلیک په مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت مرستیال بشیر نورمل هم حاضر و.

په کابل کې د جاپان سفارت د اعلان له مخې، دا پروژه به د روغتیا د نړیوال سازمان او جاپان د نړیوالې همکارۍ موسسې جایکا له خوا د عامې روغتیا وزارت په همکارۍ اجرا شي.

د جاپان سفارت وایي چې ددغه هېواد په تازه مرستې سره به د روغتیا نړیوال سازمان او نور همکاران یې ددې وړتیا پیدا کړي چې د تشخصیي، څارنکو او کلنیکي خدماتو د زیاتوالي له لارې د ساري ناروغیو مخنیوی وکړي.

د جاپان سفارت په اعلامیه کې راغلي چې دا پروژه نه یوازې د اوسنیو ساري ناروغیو په وړاندې د مبارزې د اړتیاوو په برخه کې مرسته کوي، بلکې روغتیایي سیستم به په راتلونکي کې هم له بیرنیو موردونو سره د مقابلې لپاره پیاوړی کړي.

هلمند، بادغیس، دایکندي او همداراز په کابل کې افغان ـ جاپان روغتون له مرستو څخه برخمن کېږي.

په کابل کې د جاپان سفارت د معلوماتو له مخې، دا هېواد له ۲۰۰۱ کال راهیسې ۹،٦ میلیارد ډالر له افغانستان سره مرسته کړې ده.

# د سوکاله کورنۍ ځانګړتیاوې

◆ محمد ظریف صمیم

د اسلام پـه سپېڅلي دیـن کـې د دیانت ،تقوا، نظم ، عدالـت او استحکام پراساس ولاړې کورنـۍ پـر جوړښت ټینګار شـوی، ځکه همـدا کورنـۍ ده چې د ټولنې او هېـواد پـه کچـه د پورتنیـو بنسټونو د پیاوړتیـا سـبب کېـږي چـې د کورنـۍ همدې نظـم او پیاوړتیـا ته ژوره پاملرنـه د کورنـۍ او ټولنـې د خوښـۍ او د سـوکاله ژونـد لامـل کېږي . کورنـۍ نظـم د کـور، کلـي ، ټولنـې او هېـواد د نظـم او سـمون سـبب کېـږي. پـه هغـو کورنیـو کـې چې پـه واقعـي توګـه د اسلام په سپېڅلو احکامـو عمـل کېـږي او د کورنـۍ هرغـړی خپـل مقام او ځـای پېژنـي هلتـه اولاد پـه بشـپړه توګـه د مـور او پـلار د سلامشـورو پربنسـټ عمـل کـوي او پـه مقابـل کـې مـور او پـلار هم خپـل اولاد ته ځانګړی ارزښـت ورکـوي او د هغـوی د هـرې شـرعي او اصولي غوښـتنې پـه عملي کولو کـې ورسـره بشـپړه مرسـته کـوي.

دا هـم بایـد پـه ډاګـه کړو چې لـه خپلو اولادنو سره له بلوغـه مخکې او وروسـته پراوونـو کـې د پـلار او مـور چارچلنـد بایـد توپیر ولـري ځکه له بلوغـه وروسـته لـه خپلـو اولادونو سـره اغېزمـن ارتباط او ښـې اړیکې د کورنـۍ د اړانـۍ د لاپیاوړتیـا لامـل کېـږي. که لـه خپلو اولادونو سـره د مـور او پـلار اړیکـې او ارتبـاط ښـه ټینګ نـه وي او زلمي زوی یـا لور مو لـه تاسـو سـره په زغرده د زړه خواله ونه شـي کـړی، هغوي تاسـو خپل ملاتـړي نشـي بللـی نـو یـوازې په ښـه ارتباط سـره خپل زلمـي زوی او پېغلـې لـور تـه پاملرنـه او د هغـوي ملاتـړي او غمخور شـئ.

خپـل اولادونـه دې ته هڅوی چې خپل نظر او احساسـات بیان کړي.

د ځوانـۍ پـه لومړیـو وختونـو کـې د خپلو اولادونـو اړتیاوې په ښـه توګه درک کـړئ او نصیحـت او سپارښـتنه ښـو اړیکو او ارتباط تـه اړتیا لري.

پـه یـاد ولـرئ هغه څوک چـې د خپلو اولادونـو د تېروتنو پـه اصلاح کې لـه پوهـې او زغمـه کار وانـه خلـي د هغـوی ترمنځ به خـدای مکړه واټن او بالاخـره د اړیکـو د پرې کېدو لامل شـي.

نـو کـه غـواړئ چـې لـه خوښـیو ډک ژوند ولرئ دغـو لاندې ځـو ټکو ته د بېلګـې پـه توګه جـدي پاملرنه اړینه بریښـي.

ـــ د کورنـۍ د غـړو ترمنـځ پـه هره برخه کې منطقي سـلا مشـورې او د کور د کشـرانو په وړاندې د مشـرانو د مسـوولیت احسـاس او د مشـرانو پـه مقابـل کې د کشـرانو درناوی.

ـــ د کورنـۍ د غـړو پـر یو بـل باور او لـه دې اعتماده ناوړه ګټـه نه پورته کېـدل ځکـه باور د بریالۍ کورنـۍ ځانګړتیا ده.

ـــ غړملتیـا، همفکـري او ملګرتیـا د هوسـا او خوشـحاله کورنـۍ نښـه ده نـو دغـو ټکـو تـه جـدي پاملرنـه د ورځنیـو چارو او مسـولیتونو د ښـه سنبالښت لامـل کېـږي.

ـــ د کورنـۍ د غـړو ترمنـځ وحـدت او یووالـی او د خبرواتـرو لـه لارې تفاهـم او پـه خپـل منـځ کـې د سـتونزو او زړه بدوالـي لیـرې کـول پرته لـه دې چـې څـوک پـوه شـي.

ـــ د یـو بـل پـه سـلیقو او غوښـتنو پوهېـدل او هغـوی ته پام کـول او تر خپلـه وسـه د هغوی عملـي کول.

ـــ لـه یـو بلـه پـه روا او اصولي غوښـتنو کې شـرم نـه کول یعنـې خپلې روا او طبیعـي غوښـتنې لـه تاوتریخوالـي او نـاوړه چـار چلنـده پرتـه بیانـول.

ـــ د یـو بـل حـق تـه درناوی کـول او لـه خپل ټاکلـي حده سـرغړونه نه کول .

ـــ د یـو بـل روحـي او بدنـي سـلامتیا تـه جـدي پام کـول او د دغـه راز کومـې سـتونزې پـه صورت کـې د هغـې پـه اړوند کې تر وروسـتي حده هڅـه او هانـد کول.

ـــ تـل د یـو بـل د خـوږو خاطـرو یـادول او د ترخـو پېښـو او خاطـرو لـه یادولـو ډډه کـول او تـل د خوشـحاله او له خوښـیو ډک ژوند لپاره هڅه کول .

ـــ پـه خپلـې کورنـۍ سـربېره خپلـو ګاونډیانـو تـه هـم ارزښـت ورکـول ځکـه دغـه چـاره د متقابـل اهمیـت او درنـاوي لامـل کېـږي.

ـــ د کورنـۍ ټـول غړي لـه خپـل اقتصـادي حالتـه خبـرول او پـه دې برخـه کـې هرڅـه په ډاګه کول، همداراز بسـپنه او پس انداز د سـوکاله کورنـۍ د اقتصـادي پروګرامونـو یـوه برخـه ده، خپلو ماشـومانو ته هم د هغـې سپارښـتنه کـول که څـه هم دا چاره پـه ډېره کمه کچـه وي ځکه پـه دې کار سـره د راتلونکـي لپـاره د ماشـومانو د مسـوولیت احسـاس پیـاوړی کېـږي.

ـــ د یـو بـل د ودې لپـاره هڅـې کـول او د کورنـۍ د غـړو د ودې او پرمختـګ زمینـه برابـرول.

ـــ د یـو بـل پـه وړانـدې د پیاوړتیـا او ځواکمنتیا له ښـودلو، پـه بله وینا د زور ویلـو او قدرت غوښـتنې څخـه ډډه کول.

ـــ د کورنـۍ د ټولـو غـړو لخـوا د بریالیتـوب او هیلـې احسـاس کول او تـل د ژوندانـه پـه ټولـو چـارو کـې د برې هیلـه کـول ځکـه راتلونکې ته هیلـه درلـودل د بریالیتـوب نښـه ده .

ـــ د یـو بـل ترخنـګ لـه هـر ډول ویـرې او ډاره پرتـه د امنیـت او آرامۍ احسـاس کـول.

ـــ یـو بـل ته په ژبـه او عمل کې د مینـې، صمیمیت او اخـلاص بیانول او لـه دروغـو او پوچو ژمنـو پرهېز کول.

ـــ له یو بله بې ځایه او له توانه لیرې تمې کولو څخه ډډه کول.

ـــ کـه د ننـه پـه کورنـۍ کـې کومـه سـتونزه رامنځته شـي پرتـه له دې چـې د ګـرم پـه لټـه کـې شـئ د هغـې د اوارې پـه بـاب فکـر کـول او د نومـوړې سـتونزې د اساسـي او منطقـي حـل سـنجول.

ـــ د کورنـۍ د هـر وګـړي د خوښـۍ او رضایـت د جلبولـو پـه فکـر کـې کېدل .

ـــ ښـځه او خاونـد د ډېـرو نـږدې ملګـرو پـه شـان ژونـد کـول، نـه د دوو سـیالانو پـه توګـه او تـر خپلـه وسـه د یـو بـل پـه وړانـدې لـه منفـي غبرګونـه ډډه کـوي.

لنـډه دا چـې لـه خپلـو اولادونـو سـره داسـې چلنـد وکـړئ چـې زړه مـو غـواړي پـه هغـوی کـې یـې مثبتـې پایلې ووینـئ، هغـوی ته لـه مینې، محبـت، اخـلاص او امنیتـه ډکـه کورنـۍ ورپـه برخـه کـړئ دا تـر ټولـو ګرانبیـه او ښـکلې ډالـۍ ده چـې تاسـو یـې دوی تـه ورکـولای شـئ. د هرافغـان لپـاره د سـوکاله او له خوښـیو او نیکمرغیـو ډک ژوند په هیله.

# جګړو د کندهار بڼونه د وچېدو له ګواښ سره مخ کړي دي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ احمدشاه شاداب ـ کندهار

په تېرو کلونو کې به د نوی کال له پیل سره سم بڼوالو د کندهار په ولسوالیو کې د خپلو بڼونو د ښه حاصل ورکولو په موخه په خپلو ځمکو کې کارونه کول، خو سږکال د دغه ولایت په ډېری ولسوالیو کې د وسله والو او امنیتي ځواکونو تر منځ جګړې رواني دي او خلک په خپلو ځمکو او بڼونو کې کار نه شي کولی ترڅو کښتونه د نوي کال حاصلاتو لپاره چمتو کړي.

ددغو ولسوالیو زیات بې ځایه شوي بې وزله خلک دي چې د بزګرۍ په چارو بوخت وو او دې ته اړ شوي چې کندهار ښار او نورو امنو سیمو ته کډه وکړي ځکه د دوی بڼونه تر ډېره ویجاړ شوي دي.

خلک وایي چې د پسرلي موسم په رارسېدو سره اړتیا ده خپلو بڼونو ته ولاړ او د نوي کال د حاصلاتو لپاره یې چمتو کړي خو په وینا یې د پلچکونو د خرابوالي او په بڼونو کې د مینونو له وېرې کار نشي پکې کولی، ځکه طالبانو په عمومي لارو او بڼونو کې مینونه ځای پر ځای او تولې لارې یې تړلې دي.

محمدالله او شاه ولي د کندهار ولایت د ارغنداب هغه بڼوال دی، چې د جګړو له امله یې خپلې سیمې پرې ایښې او اوس په کندهار ښار کې ژوند کوي. دوی وایي چې له یوې خوا یې بڼونه له وچېدو سره مخ دي او بل لوري ته په ښار کې وزګار په کرایي کورونو کې اوسېږي.

دوی وایي چې پر ځمکو د مینونو او جګړې له خطره خپلو بڼونو نشي ورتلای، له همدې امله یې اوس بڼونه د وچېدو له ګواښ سره مخ شوي دي.

محمدالله او شاولي وایي: «د کلونو خواري مو له منځه ځي ځکه بڼونو ته مو اوبه نه ورسېږي، دا زموږ د څلوېښت کلنو هڅو پایله ده چې سږ کال د له منځه تلو په حال کې ده، اوس له یوې خوا وچکالۍ او بل لوري ته جګړې هرڅه له ګواښ سره مخامخ کړي دي.»

د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست مسوولین هم وایي، چې روانو جګړو سږ کال د نورو برخو ترڅنګ کرنې ته هم زیان رسولی، چې له همدې امله به سږ کال د کندهار کرنیز حاصلات ۴۰ سلنه کم وي.

د کندهار د کرنې ریاست سرپرست محمد هارون شریفي وایي چې د کندهار بزګران او بڼوال سږ کال دوه ځله زیانمن شول، ځکه یو ځل د حاصل اخیستو پرمهال جګړه زیاته شوه او اوس یو ځل بیا د ناامنۍ له امله خپلو سیمو ته نه شي ورتلای.

د کندهار ارغنداب، ژړۍ، پنجوائي، مېوند، شاولیکوټ او ډنډ ولسوالۍ چې تر ډېره کرنیز حاصلات هم له دغو ولسوالیو ترلاسه کېږي، له څه باندې څلورو میاشتو راهیسې پکې جګړې رواني دي، او د دولت مخالفو وسله والو لارې تړلې دي.



# افغانستان لـه زمبـابوې سـره د ټېسټ په دويمـه لوبه کې بريا ترلاسه کړه



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

افغانستان د ټېسټ دويمه لوبه د ٦ وېکټو په توپير وګټله، د حشمت الله شهيدي او اصغر افغان اوږده ملګرتيا او د راشد خان غوره توپ اچونه د دې لامل شوه چې زمبابوې ته ماته ورکړي او دغه لوبلړۍ مساوي پای ته ورسوي.

دغه لوبه چې د متحده عربي اماراتو په شېخ زايد کرېکټ لوبغالي کې ترسره شوه، په پيل کې پچه افغانستان وګټله او د لومړۍ لوبې په څېر يې د منډو جوړولو پرېکړه وکړه.

د افغانستان کرېکټ بورډ لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي دي چې، د لومړۍ لوبې په لومړۍ پاڼۍ کې افغانستان يوازې د څلورو وېکټو په له لاسه ورکولو د لوبډلمشر اصغر افغان او حشمت الله شهيدي د تاريخي ۳۰۷ منډو ملګرتيا پر مټ ۵۴۵ منډې ترسره کړې، ابراهيم ځدراڼ د تېرې لوبې په څېر نه وځلېد او ۷۲ منډې يې جوړې کړې، جاويد احمدي چې په لومړۍ لوبه کې ځای نه و ورکړل شوی په دويمه لوبه کې نه او نه ځلېد او يوازې يې څلور منډې وکړې. په ټول کې د حشمت الله شهيدي ۲۰۰ نا سوځېدلو، اصغر افغان ۱٦۴ او د ناصر جمال ۵۵ نا سوځېدلو منډو سره وکولی شول چې افغانستان په دغو ټېسټ لوبو کې ډېرې منډې ترسره کړې. د افغانستان په توپ اچوونکو کې راشد خان څلور، حمزه هوتک درې او سيد شيرزاد د زمبابوې دوه لوبغاړي وسوځول.

کرېکټ بورډ زياتوي، زمبابوې په خپله دويمه پاڼۍ کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۳٦۵ منډې جوړې کړې، چې د افغانستان له لومړۍ پاڼۍ څخه پاتې ۲۵۸ منډو پوره کولو ترڅنګ يې افغانستان ته د ۱۰۸ منډو هدف وټاکه. د افغانستان لپاره په توپ اچونه کې راشد خان يو ځل بيا غوره توپ اچونه وکړه او د زمبابوې ۷مهم لوبغاړي يې وسوځول، ترڅنګ يې حمزه هوتک، سيد شيرزاد او جاويد احمدي هر يوه، يوه وېکټ ترلاسه کړه.

افغان توپوهونکي د خپلې دوېمې پاڼۍ د توپ وهنې لپاره لوبغالي ته راغلل او ۱۰۸ منډې يې ترسره کړې، چې پکې د رحمت شاه ۵۸ او د ابراهيم ځدراڼ ۲۹ منډې د يادولو وړ دي.

حشمت الله شهيدي د تاريخي غبرګې سليزې او (۲۰۰) منډو په مټ د لوبې غوره لوبغاړی وټاکل شو.

تمه ده چې د افغانستان او زمبابوې ترمنځ د شل اوريزه لوبو لوبلړۍ د همدې مياشتې په ۱۷ مه نېټه پيل شي.

# عکسونه خبرې لري


























د افغانستان کرېکټ ملي لوبډلې او د وزلوبې لیګ سیالیو یو ځل بیا د ځورېدلو افغانانو زړونو ته خوښي ورکړه، ورزش د روغتیا ترڅنګ وګړو ته د یووالي او سوکالۍ هیله وربخښي.

عکسونه له ټولنيزو شبکو کاپي شوي دي.

Hasht e Subh Magazine
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



جگړه هره ورځ افغانان قرباني کوي؛ آخر ترکله به
دا ناورین روان وي، نو راځئ نور تاوتریخوالي ته د
پای ټکی کېږدو او په خپلو منځونو کې د دوستۍ
او وروګلوۍ تخم وشیندو.